# دَپښتو اتم جماعت دَ پاره

## حمد وثناء

د شعرونو مطلب

(۱) شاعر وائۀ چې اے الله! ثنا تا له ښائۀ چې ته خالق، رازق او لار ښودونکے یې

(۲) اے الله! ته د ټولو بادشاهانو بادشاه یې او ته د بې کسانو امداد کونکے یې

(۳) اے الله کرم او سخاوت کونکے یې او ستا د سخاوت څۀ حد نشته. یو بنده چرې هم ښېګړې شمېر لې نۀ شي.

(۴) شاعر الله پاک ته وائۀ چې ما دَ ګناه دَ قېد خانې یا جېل نه آزاد کړه ځکه چې تۀ په کریم او رحیم نو مونو یادولے شے

(۵) شاعر الله پاک ته وائۀ چې زما وجود په ګناهونو خیرن دے نو ته یې پاک او صفا کړه ځکه چې تۀ معاف کونکے پرده اچونکے او پاک یې

(۶) شاعر نعمت الله وائۀ چې ما نعمت الله! د ارزو او ارمانونو کچکول ستا درته نیولے دے کۀ زۀ هر څو مره ګنهګاریم او ډېره ګناه لرم خو بیا هم له تانه دَ بخښنې اُمید واریم

## دَمشقۀ سوالونو جوابونه

(۱) په دې حمد کښې د الله تعالی کوم کوم صفتونه بیان کړۀ شوۀ دۀ؟

جواب: په دې حمد کښې دَ الله تعالی دا صفتونه بیان کړې شوۀ دۀ. خالق، رازق، راهنما، دست ګیر، کریم، رحیم، غفار، ستار، سبحان.

(۲) په دې حمد کښې د الله تعالی نه څۀ څۀ غوښتلۀ شوۀ دۀ؟

جواب: په دې حمد کښې دَ الله تعالی نه لارښودنه، د ګناه دَ بندنه آزادۍ، دَ ګناهونو بخښنه او د خپلو آرزو ګانو پوره کېدل غوښتلۀ دۀ.

(۳) خپل وجود ته شاعر ولې خیرن وائۀ؟

جواب: ګناه ته همېشه پلیت او خراب وئیلی شوۀ دۀ او ښکۀ پاکۀ او صفائۀ ده. نو چې کوم وجود به ګناه ککړ او آلوده شۀ نو هغه په خیرن بللے شۀ.

(۴) " د آرزو کچکول " نه څۀ مراد دے؟

جواب: د یو بنده ډېر خواهشات وۀ ډېر آرمانونه دۀ ډېرې غوښتنې وۀ نو بنده دَ هغې دَپاره سوال کوۀ. نو دغه سوال کۀولو ته یې د آرزو کچکول وئیلۀ دۀ.

(۲) لاندینی مصرعې پوره کړئ.

(۱) الحمد ثناء تاله ښایۀ خدایه!

(۲) اے کریمه! د کرم نشته پایان ستا

(۳) خوار بنده کله شمېر لې شۀ احسان ستا

(۴) په کریم رحیم نامه سره یې یاد

(۵) دا خیرن وجود می پاک کړې له ګناه نه

(۳) د لاندینو لفظونو معنې ولیکئ

جواب:

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| الحمد | تول ثنا صفت ستادۀ |
| دست ګیر | امداد کونکے |
| پایان | حد |
| ستار | عیب پټونکے |
| ارزو | آرمان، خواهش |
| رهنما | لارښودونکے |
| کریم | سخاوت کونکے |
| رحیم | رحم کونکے |
| سبحان | پاک |

(۴) لاندیني الفاظ په خپلو جملو کښې استعمال کړئ؟

جواب:

| الفاظ | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| ثناء | تول ثناء د الله تعالی دپاره ده |
| بې کسه | الله تعالی د بې کسه او چارو سره امداد کونکے دے. |
| کرم | د الله تعالی کرم بې حسابه دے. |
| قېد خانه | هر قېدۀ په قېد خانه کښې تنګ دۀ |
| کچکول | هرملنګ خان سره کچکول ساتۀ |

(۵) دَلاندې ورکړۀ شوۀ لفظونو درې (۳) درې (۳) هم قافیه لفظونه ولیکئ.

بادشاهان، شادان، جهان، وران کرم، ستم، صنم، کرم

خوار، تیار، بهار، وار یاد، باد، ښاد، آزاد

وجود، نمود، سود، عُود

## نعت

د شعرونو تشریح:

(۱) شاعر وائۀ چې زمونږ نبی ﷺ دهغه قافلو لارښودنه وکړه چې لار نۀ ورکه وه او د ټولو عالمو دپاره هغوۀ مبارک ویو رحمت وۀ

(۲) شاعر وائۀ چې د نورو ټولو پیغمبرانو مثال لکه دَ ستورو پشان دے او دَ حضرت محمد ﷺ مثال لکه د روښانه نمر پشان دے

Info Hub HRMS SIS SED

Scanned with CamScanner

(۳) وائۍ چې په ظاهره خو هغه په امی لقب یا دولے شۍ چې کښې لیکل لوستل یې نه وُو زده، خو حقیقت دا دے چې دَ هغوۍ مبارک ذات دَ علمونو یو ژور سمندروۀ.
(۴) شاعر وائۍ چې دَ سمندر نه هم ژور دے. اؤ لکه یو لوئے بحر دے.
(۵) وائۍ چې په هغوۍ باندې الله تعالی رو غ قرآن مجید نازل کړے دے اؤ بیا په دغه قرآن مجید کښې یې هغوۍ مبارکو ته په طه اؤ یسٓ باندې مخاطبه کړې ده.
(۶) شاعر وائۍ چې حضرت محمد ﷺ نه دَ دنیا نه دَ غلامۍ تنبرې ورکې کړې اؤ ټوله دنیا یې دَ رڼا په پلوشو روښانه کړه.
(۷) شاعر وائۍ چې زمونږه خوږ نبی ﷺ دنیا ته دَ مینې اؤ محبت پېغام راوړے دے اؤ دَ هغوۍ مبارک ذات دَ امن دَپاره سحر دے.

## دَ مشقۍ سوالونو ځوابونه

(۱) لنډ ځوابونه ورکړئ.
(۱) لاره ورکېو کاروانونو له څوک رهبر دے؟
جواب: لاره ورکېو کاروانونو حضرت محمد ﷺ رهبر دے.
(۲) ټول پېغمبران څه حیثیت لرۍ اؤ زمونږ دَ پېغمبر مقام څۀ دے؟
جواب: ټول پېغمبران لکه دَ ستورو حیثیت لرۍ اؤ زمونږ پېغمبر لکه دَ نمر په شان دے.
(۳) طه اؤ یسٓ نه څۀ مراد دے؟
جواب: طه اؤ یسٓ دَ قرآن مجید دَ دوه سُورتونو نومونه دۍ. اؤ وائۍ چې په دغه الفاظو الله پاک نبی ﷺ مخاطب کړے دے.
(۴) زمونږ نبی ﷺ دنیا ته دَ څۀ پېغام راوړے وۀ.
جواب: زمونږ نبی ﷺ دنیا ته دَ امن اؤ مینې پېغام راوړے وه.
(۲) دا نظم نعت بللے شۍ. نعت هغه نظم ته وائۍ چې پکښې دَ حضرت محمد ﷺ تعریف اؤ ستائینه شوې وۀ.
(۳) دَ حضرت محمد ﷺ په لوړه مرتبه اؤ دَ هغوۍ په پېغام پنځۀ کرښې ولیکئ.
جواب: دَ حضرت محمد ﷺ درجه دَ الله په نزد ډېره لوړه ده. هغوۍ ته سیدالانبیاء یعنی دَ نبیانو بادشاه اؤ امام الانبیاء یعنی د نبیانو امام هم وئیلۍ شۍ. اؤ دَ رحمة للعالمین یعنی دَ عالمینو رحمت هم ورته وائۍ. اؤ دَ لوړو اخلاقو لرونکے یې هم ورته وئیلۍ دۍ. حضرت محمد ﷺ خاتم الانبیاء دے. دَ دوۍ نه وروستو بل پېغمبر نشته. دوۍ دنیا ته دَ امن روغې جوړې اؤ دَ شرک دَ خاتمې دپاره تشریف راوړے وۀ. اؤ دَ دوۍ په وجه په دنیا کښې امن راغے. شرک ورک شه اؤ توحید عام شۀ.
(۴) په دې نعت کښې دَ حضرت محمد ﷺ ځنې خصوصیات بیان شوۍ دۍ، هغه خصوصیات په ګوته کړئ.
جواب: په دې نعت کښې دَ حضرت محمد ﷺ ځنې بیان کړۍ شوۍ خصوصیات څۀ دارنګ دې لاره ورکو کاروانونو له رهبر، په دنیا کښې رحمت، دَ علمونو سمندر دے. قرآن پرې نازل شوے. غلامۍ یې ورکه کړه. دَ امن اؤ دَ مینې پېغام یې راوړے دے.
(۵) دَلاندینو الفاظ معنې وُلیکئ او په جملو کښې یې راوړئ.

| الفاظ | معنې | په جملو کښې استعمال |
|---|---|---|
| کاروان | قافله | حضرت محمد ﷺ دَ انسانۍ کاروان راهنمائۍ وُکړه |
| پېغمبر | نبی | زمونږ پېغمبر دنیا ته دَ امن پېغام راوړے وۀ. |
| ځلنده | روښانه | دَحضرت محمد ﷺ ذات اؤ دَ هغوۍ پېغام ځلنده دے. |
| لقب | دَ عزت نوم | دَ حضرت خالد بن ولید لقب سیف الله وۀ. |
| کروندګر | کرکونکے | هر کروندګر کوشش کوۍ چې ښۀ فصل یې وُشۍ. |

(۶)

| کالم "الف" | کالم "ب" | کالم "ج" |
|---|---|---|
| دَرحمتونو | سمندر | دَرحمتونو پېغمبر |
| امی | یسٓ | امی لقب |
| دَ علمونو | پېغمبر | دَ علمونو سمندر |
| طه | نبۀ | طه یسٓ |
| خوږ | لقب | خوږ نبی |

## دَ اخلاقو معلم ﷺ

دَ ګرانو ټکو معنې

| ګران ټکي | معنې | ګران ټکي | معنې |
|---|---|---|---|

| | | | |
|---|---|---|---|
| ویاړ | فخر | جوکه | قابل |
| خوندة | محفوظ | راتک | راتلل |
| قبیح | ضراب | وحشیانه | د ځناورو په شان |
| نجات | خلاصے | تقلید | پیروۍ |
| وسیله | ذریعه | احکام | د حکم جمع |
| صادق | رښتونے | امین | امانت ساتونکے |
| ډکر | پراو | استوکنه | اوسېدل |
| بریالۍ | برے | عظیم | لوئے |
| | موندونکے | کوتاهی | غلطی |
| هڅه | کوشش | | |

## دَ مشقة سوالونو جوابونه

(۱) د لاندینو سوالونو لنډ ځوابونه ولیکئ.

(الف) زمونږ پېغمبر ﷺ د اولس په ژوند کښې څه بدلون راوستو؟

جواب: زمونږ پېغمبر ﷺ دژوند په هر اړخ کښې بدلون راوستو دَ کفر او شرک تیارې یې ورکې کړې دَ ښو اخلاقو لاره یې وښودله او خلق یې دَ غلطو لارونه راواړول.

(ب) حضرت عائشہؓ دَ پېغمبر ﷺ د اخلاقو باره کښې څه وفرمایل؟

جواب: حضرت عائشہؓ دَ پېغمبر ﷺ دَ اخلاقو باره کښې وفرمایل چې څه په قرآن کښې دة نو هم هغه د هغوۀ مبارکو اخلاق وو.

(ج) د مکې خلقو به رسول ﷺ په کومو نومونو بللو؟

جواب: د مکې خلقو به رسول ﷺ په "امین" او "صادق" بللو.

(د) دَ ابو سفیان سره رسول ﷺ څه سلوک وکړو؟

جواب: ابوسفیان چې دَ اسلام سخت دښمن وۀ د مکې دَ فتحې په موقع رسول ﷺ هغه معاف کړو.

(هـ) ماشومانو سره به رسول ﷺ څنګه سلوک کؤلو؟

جواب: رسول ﷺ به ماشومانو سره مینه کؤله. په هغوۀ به یې سلام اچؤلو. ځان سره به یې په سورلۍ سورؤل او دَ فصل ورومبۍ مېوه چې به راغله نو اول به یې تر ټولو کم عمره ماشوم له ورکؤله.

(و) دَ طائف خلقو دَ رسول ﷺ سره څه سلوک وکړو؟

جواب: دَ طائف خلقو رسول ﷺ په کاڼو اوو ښتو. دَ هغوۀ مبارک وجود زخمی شۀ او پېزار یې له وینو ډک شۀ.

(ز) د مکې د خلقو د ناکړدو په بدله کښې رسول ﷺ دهغوۀ باره کښې څه فیصله وکړه.

جواب: د مکې د خلقو د ناکړدو په بدله کښې رسول ﷺ د مکې خلقو ته عامه معافة وکړه

(ح) د رسول ﷺ په ساده ژوند څو کرښې ولیکئ؟

جواب: د رسول ﷺ دا مبارک عادت وۀ. چې خپل کارونه به یې په خپلو مبارکو لاسونو کؤل سودا به یې له بازاره په خپله راوړه. خپل پېزار به یې په خپله مرمت کؤلو. خوراک څښاک. جامه پېزار او استوګنه هر څه یې ساده وۀ. هغوۀ به د غریبانو او ناچاره خلقو سره ناسته پاسته کؤله

(۲) لاندینة الفاظ په خپلو جملو کښې راولئ

جواب:

| الفاظ | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| خوندة | زمونږ د پېغمبر ﷺ تول ارشادات په کتابونو کښې خوندة دة. |
| وسیله | زمونږ نبی ﷺ د خپلو ښو اخلاقو په وسیله ډیر خلق په سمه لار کړل. |
| تفسیر | زمونږ د پېغمبر ﷺ ژوند د قران مجید علمة تفسیر وۀ. |
| ماشوم | زمونږ پېغمبر ﷺ به هر ماشوم سره مینه کؤله. |

(۳) مذکر او مؤنث بنیل بنیل ولیکی

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مذکر | اولس | فخر | عمل | کابة |
| مؤنث | دنیا | ذریعه | بة بة | وینه |

(۴) دَ واحد جمع او د جمعې واحد ولیکئ

| واحد | جمع | واحد | جمع |
|---|---|---|---|
| خلق | اخلاق | مقام | مقامونه |
| عمل | اعمال | پردے | پردة |
| لاس | لاسونه | دښمن | دښمنان |
| زوئے | زامن | حاجت | [illegible] |

## دَ نېکۍ بدله (قیصه)

## دَ مشقة سوالونو جوابونه

(۱) دَ لاندینو سوالونو لنډ جوابونه ولیکئ.

(الف) د شهزاده کوم عمل د بادشاه خوښ نۀ وۀ؟

جواب: شهزاده چې به په سیند کښې کبانوته اوړۀ اچؤل نو دغه عمل دَ بادشاه خوښ نۀ وۀ.

(ب) شهزاده له بادشاه څۀ سزا ورکړه؟

جواب: شهزاده له بادشاه دا سزا ورکړه چې هغه یې د ملک نه وشړلو.

(ک) شهزاده پـه بـل ښـار کښې دَ چاسره په کوم شرط نوکر شۀ؟

جواب: شهزاده پـه بل ښار کښې دَ سوداګر سره په دې شرط نوکر شۀ چې په کال کښې به زمايو خدمت ترسره کوي.

(د) سوداګر د شهزاده سره څۀ وُکړل؟

جواب: سـوداګر شهزاده د غوا په څرمنه کښې دننه کړو اؤ وريسې يې څرمن بنده کړه.

(ه) شهزاده څنګه بنيرته ښار ته راغـے؟

جواب: شهزاده دَ ښـغ اؤ لـوړ غرنـه ځان اوبوتـه ګذار کړو. هلتـه مـوجودو کبانو هغه غاړې ته اورسؤلو اؤ بنير ته ښارتـه راغـے.

(و) دَ سوداګر انجام څۀ شو؟

جواب: دَ سوداګـر انجام دا شـو چې په غر باندې بره پاتـے شو. اؤ کېدے شۀ چې هم هلته مړ شوے وۀ.

(ز) شهزاده تـه دَ خپـل ښـۀ نيت اؤ سخـاوت څۀ جزا تر لاسه شوه؟

جواب: شهزاده دَ خپل ښه نيت او سخاوت په وجه شتۀ من شـه. اؤ بادشاه بنيرتـه خپـل ملک تـه پـه عزت اؤ درناوۀ راوستو.

(۲) دايـوه قيصـه ده خو دَ ښۀ عمل دَ جزا په نتيجه مشتمله ده. تاسو کوشش وُکړئ چې دغه شان يوه بله قيصی. هم خپلو ملګرو ته واؤروئ اؤ په کاپيو کښې يې وُليکئ.

جواب: دَ قيصو په برخه کښې يې وُګورئ.

(۳) دَ لانديـنو لفظونو معنې وُليکئ او په خپلو جملو کښې يې استعمال کړئ.

| الفاظ | معني | په جملو کښې استعمال |
|---|---|---|
| شوم | کنجوس بخيل | پـه شوم سړۀ پردے خېرات هم ښۀ نۀ لګۀ |
| کړاؤ | تکليف | په ژوند کښې دَ کړاؤ اؤ تکليف نه مخ جار باسل نه دۀ پکار |
| فرېب | دوکه | پـه فـرېـب اؤ ټګۍ ژوند تېرؤل ګران شۀ |
| ښېګړه | احسان | هـر چاسـره ښـېـګـړه کـول ښـۀ عمل دے |
| تعظيم | عـزت درناوے | څـو ک چې دَ بـل درناوے اؤ تعظيم کـوۀ نو ورسره د هـغـه هم درناوے کېږۀ. |

(۴) دَ لاندينو لفظونو دَ جمع واحد اؤ دَ واحد جمع وُليکئ.

جواب:

| واحد | جمع | واحد | جمع | واحد | جمع |
|---|---|---|---|---|---|
| وطن | وطنونه | شرط | شرطونه | غر | غرونه |
| غوا | غواګانې | مارغه | مارغان | کب | کبان |
| ظلم | ظلمونه | | | | |

(۵) د مذکر د پاره مؤنث اؤ د مؤنث دپاره مذکر وُليکئ

جواب:

| مذکر | مؤنث | مذکر | مؤنث | مذکر | مؤنث |
|---|---|---|---|---|---|
| بادشاه | ملکه | شهزاده | شهزادګۍ | غوئے | غوا |
| سړے | ښځه | ترۀ | چاچی | | |

(٦) دَ کالم "الف" سره سمون خوړونکی مترادف الفاظ په کالم "ب" کښې يې ترتيبه ورکړۀ شوۀ دی تاسو يې په کالم "ج" کښې په ترتيب سره وُليکئ

| کالم "الف" | کالم "ب" | کالم "ج" |
|---|---|---|
| ښۀ | ځناور | ښۀ غوره |
| سيند | تالاش | سيند دریاب |
| حيوان | تقدير | حيوان ځناور |
| لټون | غوره | لټون تالاش |
| قسمت | واپس | قسمت تقدير |
| بنيرته | درياب | بنيرته واپس |

## دَ آزادۍ په تحريک کښې دَ عالمانو برخه

### دَ مشقۀ سوالونو جوابونه

(۱) دلانديـنو سوالونو جوابونه ورکړئ.

(الف) آزادۍ ته نعمت اؤ غلامۍ ته لعنت ولې وائۀ؟

جواب: آزادۀ دَ خپل واک اختيار نوم دے څکه ورته نعمت وائۀ اؤ غـلامۀ د بـل د اختيـار اؤ د بنده واک د بل پـه لاس کښې وۀ نو څکه ورته لعنت ونبلۀ شۀ

(ب) دَ آزادۍ پـه جنګ کښې د سيکانو خلاف کوم تحريک چاچلؤلے وۀ؟

جواب: دَ آزادۍ پـه جنګ د سيکانو خلاف تحريک احمد بريلـوۍ او شاه اسماعيل شهيد چلؤلے وۀ. دغه تحريک به يې د "تحريک مجاهدين" په نامه ښلو

(ج) د ترنګزو د حاجۀ صاحب خپل نوم څۀ وۀ؟

جواب: د ترنګزو د حاجی صاحب خپل نوم عبدالواحد وۀ

(د) دَ امبېلۀ غزا پـه کومه نېټه شوې وه اؤ دا د چا چاتړ منځ وه؟

جواب: د امبېلې غزا په کال 1863. کښې د حاجۀ صاحب ترنګزو ؤ انګريزانو تر منځ شوې وه

(هـ) د بنو قاضی فضل قادر ولې توری جامې اغوستې اؤ په څه نامه خلقو کښې مشهور وُه؟

جواب: دَ بنو قاضۀ فضل قادر به تورې جامې ځکه اغوستۀ چې وئیل به یې چې تر څو یې د انګریزانو آزادی نهٔ وۀ حاصله کړې نو تر هغې پورې به تورې جامې اغوندم۔ اؤ په دغه وجه دې په "سیاه پوش" مشهور وُۀ

(۲) لاندینۀ لفظونه په خپلو جملو کښې استعمال کړئ۔

جواب:

| الفاظ | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| نیمه خوا | له دنیا نه ډیر خلق نیمه خوا لاړل۔ |
| بېرغ | دَ آزادۍ دَ بېرغ اوچتولو دَپاره ډېرې قربانۍ ورکړې شوې دۀ۔ |
| اصلاح | اول دَ ځان اصلاح کول پکار دۀ نو بیا دَنورو اصلاح کول آسان شۀ۔ |
| استوګن | دَ ملک په هر استوګن دَ قانون احترام فرض دے۔ |
| درناوے | هر انسان دَ دے حقدار دے چې دَ هغه دې درناوے وکړے شۀ۔ |
| ملنګ | رحمان بابا یو صوفي اؤ ملنګ شاعر وُۀ۔ |
| صحافة | زمونږ دَ وطن هر صحافة خپله ذمه وارۀ په ایمان داری تر سره کوۀ۔ |
| خپل واکۀ | دَ وطن دَپاره آزادۀ اؤ خپلواکۀ کټل دَ هر چا ذمه دارۀ دۀ۔ |

(۳) دَ صحیح جواب انتخاب وکړئ۔

(الف) دَ آزادۍ حاصلولو دَپاره دَژوند دَ هرې طبقې سره تعلق لرونکو خپل وس کړے دے۔

(ب) دَ ترنګزو حاجۀ صاحب په ترنګ زونو مې کلۀ کښې په کال 1846ء کښې پیدا شۀ۔

(ج) دَ بنو قاضی فضل قادر سیاه پوش هم دَ آزادۍ دَ جنګ یو بنکاره نوم دے۔

(د) مولانا عبدالرحیم پوپل زئ دَ پېښور دَ یوې علمۀ کورنۍ سره تعلق لرۀ.

(هـ) په کال 1831ء کښې مجاهدین په بالاکوټ کښې د سیکانو خلاف وُجنګېدل

(۴) په لاندینو لفظونو کښې دَ واحد اؤ دَ جمع واحد وُلیکئ۔

| واحد | جمع | واحد | جمع | واحد | جمع |
|---|---|---|---|---|---|
| پېغله | پېغلې | مېرمن | مېرمنې | مور | میاندی |
| خان | خانونه | مر | مرۀ | مجاهد | مجاهدین |
| لېونے | لېونۀ | وکړے | وکړۀ | خائے | خایونه |

## قومي وحدت (نظم)

د شعرونو تشریح:

(۱) شاعر وائۀ چې نغمه هله جوړېږۀ چې تارونه راغونډ کړے شۀ اؤ چې د ټولو آواز یو شۀ

(۲) شاعر وائۀ چې دا وطن یو وجود یا جسم دے اؤ افراد یې مختلف اندامونه دۀ که اندامونه روغ جوړ وۀ نو وجود به هم صحیح سالم وۀ۔

(۳) وائۀ چې که زمونږ دَ ټولو طاقتونه په یو ځائے راجمع شۀ نو بیا به دَ وطن لارې دَ ازغونه پاکې اؤ صافۀ شۀ.

(۴) وائۀ چې پکار دۀ چې دَ ملت افراد دَیو بل سره تړون لرۀ ۔ نو دغه شان به دوۀ دَ ملت دَ ذهن اؤ دماغ کار کوۀ.

(۶) وائۀ چې مونږ په دې خپل وطن کښې خوشحالۀ او سوکالۀ غواړو۔ اؤ ځکه نو پکار دۀ چې دَ وطن دننه دې ټول قامونه یو موټے اؤ متحد وۀ.

(۷) شاعر وائۀ چې دَ وطن ټول قامونه دَ یو ملت دَ وُنې کورې څانګې دۀ ۔ نوونه چې شادابه اؤ شادانه وۀ نو ګلونه به یې بنېرازه اؤ شادان وۀ۔

دَ مشقۀ سوالونو جوابونه

**(۱) لنډ جوابونه ورکړئ۔**

(الف) دَ وطن مثال دَ څۀ دے؟

جواب: دَ وطن مثال دَ یو وجود یا جسم په شان دے۔

(ب) که اندامونه سالم وۀ نو نتیجه به یې څۀ وۀ؟

جواب: که اندامونه سالم وۀ نو نتیجه به یې دا وۀ چې جسم یا وجود به هم سالم اؤ روغ جوړ وۀ۔

(ج) دَ ملت دماغونه اؤ زهنونه څوک دۀ؟

جواب: دَ ملت دماغونه اؤ زهنونه وکړۀ یا افراد دۀ.

(د) دَ وطن خوشحالۀ اؤ سوکالۀ په څۀ کښې دۀ؟

جواب: چې ټول قامونه یو موټے وۀ نو داد وطن خوشحالۀ او سوکالۀ دۀ.

(هـ) دَ وُنې څانګې کله شادابه اؤ بنېرازه وۀ؟

جواب: دَ ونې څانګې هله شادابه اوبنېرازه وۀ چې دَ وُنې څټه یا تنه سلامته وۀ.

(۲) لاندینۍ مصرعې پوره کړئ.

(الف) دا وطن یو جسم مونږ یې واړه اندامونه یو.

Info Hub HRMS SIS SED

Scanned with CamScanner

(ب) جسم به سالم وي که سالم یې اندامونه وي.
(ج) پاکې له ازغو نه به دَ ژوند ازغنې لارې شي
(د) جمع که یو ځائے ته زمونږ وارډ قوتونه شي.
(هـ) غړه د ملت دي د ملت سره ترلي وي.
(۳) د کالم "الف" الفاظ د کالم "ب" سره په کالم "ج" کښې جوړه کړئ:
جواب:

| کالم "الف" | کالم "ب" | کالم "ج" |
|---|---|---|
| نغمه | اندامونه | نغمه. سرود |
| یو | لارې | یو. ځائے |
| سالم | دَ محبت | سالم. اندامونه |
| ازغنې | سرود | ازغنې. لارې |
| رشته | ځائے | رشته دَ محبت |

**(۴) دَ دې نظم خلاصه وُلیکئ۔**
جواب: دَ نظم خلاصه: شاعر وائي نغمه هله پېدا کیږي چې ټول تارونه یو شان اُوراغونږوي. اُو وطن یو وجود دے اُو اُولس یې اندامونه دي. که اندامونه سالم وي نو وجود به هم سالم وي. که چرې زمونږ قوتونه په یو ځائے شي نو دَ ژوند ازغنې لارې به صفا شي. دَ ملت ټول غړي یو بل سره تړلي دي. اُو دوي دَ ملت ذهنونه اُو دماغونه دي. مونږ کښې یو بل سره خپلوي پالونو پکار دي چې زمونږ زړونه اُو دماغونه یو ځائے وي. مونږه خوشحالۍ اُو سوکالۍ غواړو او پکار دي چې ټول قامونه یو موټې وي. ملت لکه ګوره وُنه ده اُو قامونه یې څانګې دي که چرې وُنه شادابه اوښېرازه وي نو ګلونه به یې هم تازه وي

**(۵) یو شان اواز لرونکې لفظونه وُلیکئ۔**
وطن. چمن، کفن، بدن
لارې. چارې، وارې. تیارې
ملت. عزت. دولت. شهرت
شادان. ودان. وران. شان
(۶) د لاندینو مترادف وُلیکئ۔

| الفاظ | مترادف | الفاظ | مترادف |
|---|---|---|---|
| نغمه | سرود | جسم | وجود |
| ملت | قام | دماغ | مازغه |
| قوت | طاقت | | |

## مثالي زده کونکے

(۱) د لاندینو سوالونو جوابونه ورکړئ
(الف) دَسکول له اړخه انعامونه په څه ورکولې شول؟
جواب: د سکول له اړخه په تعلیمي سرګرمیو، لوبو، تقریرونو اُو نورو هم نصابي سرګرمیو کښې برخه اخستونکو ته انعامونه ورکولې شول
(ب) سپوږمۍ ولې مثالي زده کونکې بللې شوه؟
جواب: سپوږمۍ په کلیز امتحان ورومبے پوزیشن اخستې وه. بنه متقرره وه. په لوبو کښې یې برخه اخستله. خکه نو هغه مثالي زده کونکې وبللې شوه
(ج) "هر څیز چې ځلیږي نو هغه سره زرنه وي" د دې څه مطلب دے؟
جواب: په ظاهر هر صورت ده که خوږل نه دي پکار. د هر څیز حقیقت معلومول پکار دي.
(د) آیا په امتحان کښې چې څوک ورومبے پوزیشن واخلي نو هغه مثالي زده کونکے وي؟
جواب: دا هم ضروري ده خو ورسره چې په نورو سرګرمیو کښې هم برخه اخلي نو هغه به مثالي زده کونکے وي.
(هـ) د مثالي زده کونکي ورومبۍ ذمه وارۍ څه وي؟
جواب: د مثالي زده کونکي ذمه وارۍ دا دي چې د وخت قدردان وي. محنت کوي. د مشرانو حکم مني اُو عزت یې کوي. دَ مور اُو پلار خبره مني. داستاذانو احترام کوي. چه هم نصابي سرګرمیو کښې برخه اخلي.
(و) نظم وضبط د یو زده کونکي دپاره څه اهمیت لري؟
جواب: نظم وضبط د یو زده کونکي ژوند باقاعده کړي. هغه د لوبو اُو سبق دپاره خپل وختونه مقرر کړي. اُو د هغې مطابق خپل پروګرام جوړوي.
(ز) د بغداد په مدرسه کښې غریب زده کونکي ته ولې داخله نه شوه ورکولې؟
جواب: د بغداد په مدرسه کښې غریب زده کونکي ته داخله ځکه نه شوه ورکولې چې د هغه ظاهري حالت اُو جامه خرابه وه.
(ح) وزیراعظم طوسي د معائني کولو په دوران کښې مهتمم ته څه ووې؟
جواب: وزیراعظم د معائني کولو په وخت د مدرسي د طالب علمانو نه مطمئن نه شو نو ځکه یې ووې چې زه د مدرسه بندول غواړم
(ط) څوکېدا غریب زده کونکے ولې مدرسي ته دننه پرې نه ښودو؟
جواب: دغریب زده کونکي جامه خرابه وه اُو دغریبانو زده کونکو سکول ته په داخله یې پابندي لګولې وه

Scanned with CamScanner

(ډ) دَ امام غزالۀ دَ کومې خبرې نه طوسۀ متأثره شۀ؟

جواب: امام غزالۀ طوسۀ ته ووې چې علم نور دے۔ رڼا ده۔ زۀ چې علم حاصل کړم نو دنیا به روښانه کړم۔ طوسۀ له دغه جواب نه متأثر شۀ۔

(۲) خالۀ ځایونه ډک کړئ۔

(الف) هغه په کلیز امتحان کښې اول راغلۀ وه۔

(ب) اؤ دَ منډې وهلو په مقابله کښې یې په ټوله ضلع کښې وړومبے پوزیشن راغلے وۀ۔

(ج) په خاصه توگه یې دَ سپورټس کامیابۍ وُستائیلې۔

(د) هر څیز چې خلیرۀ نو هغه سرۀ زر نۀ وۀ۔

(هـ) یو مثالۀ زده کونکۀ هغه وۀ چې پکښې هره خوبۍ او هر صفت موجود وۀ۔

(و) یو مثالۀ زده کونکے دَ وخت قدردان وۀ۔

(ز) یو ښـۀ او مثالۀ زده کونکې په کور کښې دَ مور او پلار خبره منۀ۔

(ح) علم نور دے او رڼا ده۔

(ط) زۀ چې علم حاصل کړم نو ټول انسانیت به روښانه کړم۔

(۳) دَ امام غزالۀ واقعه په خپلو کاپیو کښې وُلیکئ۔

جواب: امام غزالۀ لـه دَ غریبۍ په وجه دَ بغداد په مدرسه کښې ډېره په گرانه داخله ورکړې شوه۔ خو هاسټل یې ورنۀ کړو۔ اؤ چې وزیر اعظم دَسکول معائني له راتللو نو په هغه ورځ غریبان زده کونکۀ په سکول بند کړل۔ خو وزیر اعظم دَ مدرسې کار کردگۍ نه مطمئن نه شۀ اؤ دَ مدرسۀ دَ بندؤلو فېصله یې وُکړه خو مهتمم ورته هغه غریب زده کونکے امام غزالۀ مخامخ کړو او وزیراعظم دَ هغه دَ جوابونو نه مطمئن شۀ۔ اؤ مدرسه یې په حال پرېښوده۔

(۴) دَ لاندینو لفظونو صحیح تلفظ وُکړئ۔

جواب: کَلیزه۔ هـمُ نـصَابی، مُقَرَّرهٔ۔ پُوزِیشَنْ۔ تَفْصِیلْ۔ فِطْرَتْ۔ تَواضُعْ۔ مُهَذَّبْ

(۵) دَلاندینو لفظونو واحد وُلیکئ۔

جواب:

| واحد | جمع | واحد | جمع |
|---|---|---|---|
| دستوره | دستورې | صفت | صفتونه |
| کلے | کلي | انعام | انعامونه |
| خبره | خبرې | خوشحاله | خوشحالي |
| منډه | منډې | مدرسه | مدرسې |

## نورې اؤ جام تماچۀ

(سندهۀ اولسۀ قیصی)

(۱) دَ لاندینو سوالونو لنډ جوابونه وُلیکئ!

(الف) دَ نورۀ جام تماچۀ داستان دَ کومې سیمې سره تعلق لرۀ؟

جواب: دَ نورۍ جام تماچۀ قیصې دَ سندهـ صوبۀ سره تعلق لرۀ۔

(ب) دغه داستان دَ کومې ژبې لوئے شاعر په خپله شاعرۍ کښې بیان کړے دے؟

جواب: دغه داستان دَ سندهۀ ژبې لوئے شاعر شاه عبداللطیف بهټائی په خپله شاعرۍ کښې بیان کړے دے۔

(ج) جام تماچۀ دَ کوم خاندان سره تعلق لرلو؟

جواب: جام تماچۀ دَ سندهـ دَ سمّو کورنۍ یو عظیم حکمران وۀ۔

(د) نورۀ دَ کومو خلقو سره تعلق لرلو اؤ دَ هغوۀ دَ قام څۀ کسب وؤ۔

جواب: نورۀ دَمچۀ مارانو دَ کورنۍ سره تعلق لرلو اؤ دَ دغه خلقو کسب مهیان نیول اؤ خرڅول وؤ۔

(هـ) جام تماچۀ څه کؤل چې نورۀ یې وُلیده؟

جواب: جام تماچۀ دَ کبانو ښکار کؤلو نو ناڅاپه یې په نورۀ سترگې وُلگېدې۔

(و) په نورۀ کښې کوم کوم صفتونه وؤ۔

جواب: نورۀ ښائسته وه، عاجز طبیعته وه اؤ مهذبه وه۔

(ز) جام تماچۀ مچۀ مارانو ته څۀ مراعات ورکړل؟

جواب: جام تماچۀ کینجر ډنډمچۀ مارانو ته په تحفه کښې ورکړو۔ اؤ نور ټول محصولونه یې ورته معاف کړل۔

(ح) نورې چې ملکه شوه نو څۀ بدلون پکښې راغې؟

جواب: نورۀ چې ملکـه شوه نو هم پکښې څۀ بدلون رانغلو۔ له هغې نه څان ورک نۀ وۀ۔ اؤ پکښې لوۀ اؤ غرور نه وؤ۔

(۲) اولسۀ داستانونه دَ یو قام دَ فخر او ویاړ سرمایه وۀ تاسو د پښتنو د دوه ؤ اولسۀ داستانونو یادؤنه وُکړئ چې پـه دې سیمه کښې مشهور وۀ؟

جواب: پـه دې سیمـه کښې ډېر اولسۀ داستانونـه دۀ چې چمنۀ خان، عجـب خان افریدے، ادم خان درخانۍ او موسی خان گل مکۍ مشهور دۀ۔

(۳) لاندینۀ خالۀ ځایونه په مناسبو لفظونو پوره کړئ۔

(الف) ونیلۀ شۀ چې دَ سمّو کورنۍ جام تماچۀ یو عظیم

Scanned with CamScanner

حکمران وو.

(ب) مچۀ مارانو ته په سندهی ژبه کښې "مهاڼا" وائي.

(ج) جام چې په دغو مچۀ مارانو کښې داسې یو مثاله ښائست ولیده هغه ورته حیران پاتې شو.

(د) الله پاک دَ دغریبو مچۀ مارانو په حالت رحم وکړه

(۴) لاندینۍ لفظونو په خپلو جملو کښې راؤلئ.

| الفاظ | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| داستان | دَ هرې ژبې په هر داستان کښې ښې مطلبونه پټه پراته وي. |
| شاعر | رحمان بابا دَ پښتو ژبې مشهور صوفي شاعر دے. |
| حکمران | هریو حکمران کوشش کوي چې دَ اولس دَپاره څه کار وکړي. |
| مچی مار | دَ بلوچستان په سمندر کښې مچۀ ماران کبان نیسي. |
| جامي | جامي ساده خوصفا او سوتره پکار دي. |
| رانی | راجه تل په خپله رانۍ مهربانه وي. |
| مَلِکۀ عالیه | نورۍ ملکۀ عالیه شوه خو پکښې هیڅ لوئي او غرور نه وو. |

(۵) دَ لاندې ټکو متضاد ولیکئ.

| لفظونه | متضاد | لفظونه | متضاد |
|---|---|---|---|
| ژوندۍ | مړۀ | لوئے | وړوکے |
| لاندې | باندې | ښائست | خیچن توب |
| غریب | مالدار | آګاهو | پس |

(٦) صحیح جواب ته نخښه وکړئ.

(الف) شاه عبداللطیف بهټائي دَ کومې ژبې شاعر وو؟ (دَ سندهی)

(ب) دَ نورۍ دَ مور پلار کسب څه وو؟ (مچۀ مارۀ)

(ج) په نورو کښې کوم صفتونه دَ نورونه زیات وو؟ (عاجزي)

(د) کهینجر نو مې ډنډ چرته دے؟ (سندھ کښې)

## د وطن مینه (نظم)

دَ شعرونو تشریح:-

وړومبے بند:- شاعر وطن ته وائي چې له تانه به ځار او قربان شو او ستا په خاوره به ننګ کوؤ او مینه جنګ مو دوامړه ستا دَپاره دۀ.

په دنیا دې ستا دَ قسمت ډیوه تل روښانه وي. او دغه ډیوه به سونړه دَ خپل غیرت په وینو بله ساتو. او دَ صداقت ډیوه خوک وژلی نه شي سونړ به تابانده لکه د ........ خانونه قربان کړو ځکه چې زمونړ مینه او جنګ ........ دۀ

دویم بند: سونړه غواړو چې ستا په فضا کانو کښې ........ خوږه نغمې خورې وي او دلته په هر اړخ د سپرلے ........ او چې دلته هر وخت امن وي او مونړ به هر ........ ستائینه کوؤ او ستا دپاره به مینه او جنګ کوؤ

دریم بند: او کله چې تاته خطره پیښه شي نو هر زلمے به ........ خیبر او هره پیغله به دې تاتره شي خو ستا پښتو او غیرت ........ خوندے ساتو. او د هر طوفان به مقابله کوؤ ستا دپاره ........ مینه او جنګ کوؤ.

څلورم بند: ستا دا خاوره په مونږ لکه د مور پشان ........ او ستا تصور زمونړ د زړونو ټکور دے. ته زمونړ د سترګو تور او ته د امن کوربې. ته چې خوشحاله یې نو مونړ به ........ په آرام یو ستا دپاره مینه او جنګ کوؤ.

## دَ مشقۀ سوالونو جوابونه

(۱) دَ لاندینو سوالونو لنډ جوابونه ورکړئ.

(الف) په وطن د ننګ کؤلو څۀ مطلب دے؟

جواب: په وطن دَ ننګ کؤلو مطلب دا دے چې دوطن حفاظت او تحفظ وکړے شي.

(ب) مینه او جنګ دَچا د پاره کؤلے شي؟

جواب: مینه او جنګ د وطن دپاره کؤلے شي

(ج) دَ صداقت ډیوه په پوکولې نه شي مړه کیدې؟

جواب: مطلب یې دا دے چې رښتیا چرې پټیدې او مغلوب کیدې نه شي.

(د) په وطن کښې چې امن نه وي نو نتیجه یې څه وي؟

جواب: په وطن کښې چې امن نه وي نو نتیجه یې شر او فساد او بدامنۍ وي.

(هـ) د وطن ناموس ته چې خطره پیښه شي نو زلمي او پیغلې څه کوي؟

جواب: د وطن ناموس ته چې خطره پیښه شي نو پیغلې او زلمي د دغه خطرې مقابله کوي

(۲) دلفظونو معنې په لُغت کښې ولټوئ او وې لیکئ

| لفظونه | معني | لفظونه | معني |
|---|---|---|---|
| ننګ | غیرت | صداقت | رښتیا |
| وږمې | خوشبوی | سیمه | علاقه |
| ستائینه | صفت | ناموس | ننګ غیرت |

| | | | |
|---|---|---|---|
| احترام | درناوے | تصور | خیال |
| سربازی | په سر لوبې کول | غورزنګ | طوفان تحریک |
| پلوشه | وړانګې | احساس | څه محسوسول |

(۳) " نه شة په پوکو وژلې څوک د صداقت" د دې مطلب واضحه کړئ.

جواب: د دې مطلب دا دې چې رښتیا چرې هم مغلوب کېدے شة اؤ حقیقت چرې هم پټ نه شة پاتې کېدې.

(۴) د لاندینة بند داسې تشریح وُکړئ چې اسانه وِی اؤ د شاعر مراد ترې ښکارد شة

جواب: ددغه بند تشریح مخکښې لیکلے شوے دے

(د) دهر یو لفظ هم قافیه لفظونه وُلیکئ.

جواب:

ننګ، جنګ، بنګ، آهنګ

غېرت، شهرت، دولت ، عزت

نغمې، وږمې تغمې، سمې

خطره، تاتره، سره ،کره

مور، اور، لور ، نور

## بایزید انصارة (پیر روښان)

(۱) دَلاندینو سوالونو لنډ جوابونه وُلیکئ.

(الف) دَ پیر روښان نوم څه وۀ؟ اؤ دَ چازوئے وۀ؟

جواب: دَپیر روښان خپل نوم بایزید انصاری وۀ اؤ د شیخ عبدالله زوئے وۀ.

(ب) بایزید انصارة کله اؤ په کوم ځائے کښې پیدا شۀ؟

جواب: بایزید انصارة په جالند (هندوستان) کښې په کال 1931هـ کښې پیدا شۀ.

(ج) دَبایزید انصارة د مور څۀ نوم وۀ اؤ دا چا لوُر وه؟

جواب: دَ بایزید انصارة دَ مور نوم بی بی امنه اؤ د ابابکر لور وه.

(د) بایزید انصارة کوم کتاب لیکلے دے اؤ دَ دغه کتاب موضوعات څۀ دة؟

جواب: بایزید انصارة " خیر البیان" نومې کتاب لیکلے دے اؤ د دغه کتاب اسلاقی خته اؤ تصوف دة.

(هـ) بایزید انصارة خپل حالات په کوم کتاب کښې لیکلي وۀ اؤ دغه کتاب بیا چاپوره کړو؟

جواب: بایزید انصارة خپل حالات په " حالنامه" نومې کتاب کښې لیکلي وۀ او داکتاب بیا وروستو د دۀ خاص مرید علی محمد مخلص پوره کړے دے.

(و) د بایزید انصارة مخالفت چاکړے وۀ؟

جواب: د بایزید انصارة مخالفت اخون درویزه بابا کړے وۀ.

(ز) د بایزید انصارة د خیر البیان مقابل کښې چا کوم کتاب لیکلے دے؟

جواب: د بایزید انصارة د خیر البیان په مقابل کښې اخون درویزه بابا " مخزن الاسلام " نومې کتاب لیکلے دے

(ح) بایزید انصارة کله وفات شۀ؟

جواب: بایزید انصارة په کال 1981هـ کښې وفات شۀ

(۲) سبق په غور وُلولئ او خالة خایونه ډک کړئ

(الف) د پښتو وړومبے تحریری کتاب چې موندلے شوے دے هغه د بایزید انصارة (پیر روښان) لیکلے خیر البیان دے.

(ب) بایزید انصارة د وزیرستان د کانیة ګرم د شیخ عبدالله زوئے او د شیخ محمد نمسے وۀ

(ج) الله تعالی په هر ځائے کښې موجود دے

(د) د ورځې به یې وظیفې کؤلې اؤ شپې به یې په عبادت رونولې.

(هـ) وائة چې بایزید دخپل ژوند حالات په حالنامه نومې کتاب کښې لیکلة وۀ.

(۳) یقین پخېدل، لاس نه رسېدل، لاس اخستل، دامې وږې دة. تاسو یې مطلب واضحه کړئ اؤ په جملو کښې یې استعمال کړئ.

جواب:

| محاورې | مطلب | په جملو کښې استعمال |
|---|---|---|
| یقین پخېدل | پوره باور | هر چاله پکار دة چې په خپل خان پوخ یقین وُلرة |
| لاس نه رسېدل | وس نه برکېدل | کوم کار ته چې د چا لاس نه رسة په هغې کښې دې مداخلت نه کوة |
| لاس اخستل | انکار کؤل. وروستو کېدل | په سخته کښې له دوست نه لاس اخستل دَ شرافت لاردنه ده |

## مؤتمر عالم اسلامة

(۱) دلاندسوالونو جوابونه ورکړئ

(الف) د نبی کریم ﷺ نه پس د چا دور غوره وۀ؟

جواب: دنبی کریم ﷺ نه پس د حضرت ابوبکر صدیقؓ اؤ حضرت عمرؓ دور غوره وؤ.

(ب) د چا د خلافت په آخرة دور کښې فتنه راپورته شوه؟

جواب: د حضرت عثمانؓ د خلافت په آخرة دور کښې فتنه

Info Hub HRMS SIS SED

Scanned with CamScanner

راپورته شوه.

(ج) په اسلامة دنیا کښې اړے کړے او خان خانة ولې پېدا شوه؟

جواب: مسلمانانو بادشاهانو د اسلامة احکامو خیال نه ساتلو نو په دغه وجه اړے کړے. بدامنة او خان خانة پېدا شوه

(د) سید جمال الدین افغانة څه غوښتل؟

جواب: سید جمال الدین افغانة د مسلمانانو ډیو کؤلو په خپلو پښو ودرؤلو او متحد کؤلو آرمان لرلو

(هـ) د غېرو د غلامی نه د خلاصة دپاره کومو مسلمانانو مشرانو کوششونه کړة دة؟

جواب: دغېرو دغلامی نه د خلاصة دپاره سید جمال الدین افغانة. علامه اقبال، دسعودة عرب باچا عبدالعزیز او مفتی امین الحسینی ډیر کوششونه کړة دة.

(و) د مؤتمر د لفظ څه معنی ده؟

جواب: د مؤتمر لفظة معنې فرمان برداره او مشوره کونکة ده.

(ز) دمؤتمر عالم اسلامة وړومبنے اجلاس کله وشو؟

جواب: د مؤتمر عالم اسلامی وړومبنے اجلاس په کال 1926ء کښې وشة.

(۲) د لاندینو سوالونو لنډ جوابونه ولیکی.

(الف) دمؤتمر عالم اسلامة په کوم اجلاس کښې علامة اقبال ګډون وکړة؟

جواب: د مؤتمر عالم اسلامة په دوئیم اجلاس کښې علامه اقبال ګډون وکړة.

(ب) د مؤتمر عالم اسلامة صدر دفتر چرته وة؟

جواب: د مؤتمر عالم اسلامة صدر دفتر تر کال 1939ء پورې په بیت المقدس کښې وة.

(ج) په کراچی کښې د مؤتمر عالم اسلامة صدر دفتر کله قائم کړے شة؟

جواب: په کال 1951ء کښې د مؤتمر عالم اسلامی صدر دفتر په کراچی کښې قائم کړے شة.

(د) د مؤتمر عالم اسلامة دستور په کوم اجلاس کښې منظور کړے شة؟

جواب: د مؤتمر عالم اسلامة دستور ددغه تنظیم د بغداد په اجلاس کښې منظور کړے شة

(هـ) د اسلامة ملکونو د مشرانو وړومبے اجلاس او دوئیم اجلاس په کومو ملک نه کښې وشول؟

جواب: د اسلامة ملکونو د سر مشرانو وړومبنے اجلاس ... مراکش په رباط ښار او دوئیم یې د پاکستان په لاهور کښې ... وشو.

۳. خالة خایونه ډک کړئ

(الف) د حضرت علی عدل و انصاف او د مغوة علم او ... مسلمانان مطمئن کړل.

(ب) یو وخت داسې هم راغلے چې د مسلمانانو خلافت ختم ... کړے شة

(ج) مشوره کؤل د اسلام په تعلیماتو کښې یو جوت مقام ... لرة

(د) ددغه تنظیم مرکزة دفتر په بیت المقدس کښې قائم ... کړشة.

(هـ) د السلامة ملکونو د سر مشرانو تولنه اسلامة سربراه کانفرس بللې شی.

۴. په لاندینة لفظونو اعراب ولګوئ.

جواب: حَضْرَتْ، غُوْرَهْ، اِتِحَادْ، مُشَاهِدَهْ، مَرْستَهْ، تَنْظِیْم، مُؤَثِّرْ، مَرَاکِشْ.

۵. د لاندینو الفاظو متضاد (اپوټه) ولیکئ.

| لفظ | متضاد | لفظ | متضاد | لفظ | متضاد |
|---|---|---|---|---|---|
| دښمن | دوست | آخر | اول | منظور | مسترد |
| خان خانة | اتفاق | غلام | آقا | روښانه | نیارة |
| تاوان | ګټه | وړومبے | دوئیم | | |

## ماسټر عبدالکریم

۱. د لاندینو سوالونو لنډ جوابونه ولیکی.

(الف) ماسټر عبدالکریم ته به یې "ماسټر صاحب" ولې وئیل؟

جواب: ماسټر عبدالکریم په آزاد سکول کښې استاذ وة نو په دغه وجه به یې ورته ماسټر صاحب وئیل

(ب) ماسټر عبدالکریم کله او کوم ځائے پیدا شوے وة؟

جواب: ماسټر عبدالکریم په ۱ دسمبر کال ۱۹۰۰ء کښې په اتمانزو کښې پیدا شوے وة.

(ج) د ماسټر صاحب د پلار نوم څه نوم وة؟

جواب: د ماسټر صاحب د پلار نوم منتظر خان وة؟

(د) ماسټر صاحب بة اے (B.A) د کومې علمة درس ګاه نه کړې وه؟

جواب: ماسټر صاحب بة اے (B.A) د جامعة اسلامیه دهلة نه کړې وه.

(هـ) ماسټر صاحب د بة ټة (B.T) دپاره کومې علمة درس ګاه ته تلے وة؟

جواب: ماستر د بی۔ ټی (B.T) دپاره اسلامیه کالج ته لاړو خود سفارش په نا موجودګی یې ورله داخله ورنه کړه

(و) ماستر صاحب به په کومه مجله کښې لیکل کول؟

جواب: ماستر صاحب "په پښتون" مجله کښې لیکل کول

(ز) د ماستر صاحب د لیکلو کالم څه عنوان وو؟

جواب: د ماستر صاحب د لیکلو کالم عنوان وو "نئی دنیا"

(ح) ماستر صاحب د بی بی سی (BBC) پښتو څانګې کښې د کار کولو نه ولې انکار وکړو؟

جواب: ماستر صاحب به ونیل چې زه د لندن خدمت نه نه یم پیدا زه به د پښتون او پښتون خوا خدمت کوم او په دغه وجه یې د بی بی سی (BBC) سره د کار کولو نه انکار وکړو

(ط) "تخت یا تخته" تحریک کله شروع شوے وو؟

جواب: "تخت یا تخته" تحریک په کال 1942ء کښې شروع کړے شو

(ی) ماستر صاحب کله او کوم ځائے وفات شوے وو؟

جواب: ماستر صاحب په اتمانزو کښې په 18 جنوري کال 1961ء کښې وفات شو.

۲. د لاندینو ټکو او ترکیبونو معنې ولیکئ او په جملو کښې یې استعمال کړئ.

جواب:

| ټکی او ترکیبونه | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| ګرفتار | د خدائی خدمت ګار تحریک اکثر کارکنان حکومت ګرفتار کړي وو. |
| ادیب | ماستر عبدالکریم ډیر لوئے ادیب او صحافی وو. |
| عنوان | د ماستر کریم د کالم عنوان وو "نئی دنیا" |
| پښتون خوا | د پښتون خوا زمکې د آزادۍ ډیر مینیان زیږولي دي. |
| معائنه | هر کال د هر سکول کلیزه معائنه کولې شي |
| نرے رنځ | په بڼو کښې نرے رنځ یوه خطرناکه بیماري ده |
| لوړ عزم | د چاچې لوړ عزم وي نو هغه ته هر کار آسان شي |
| اوچته حوصله | د اوچتې حوصلې خاوندان تل کامیاب موومه |
| دلګشه | د ماستر عبدالکریم په لیک کښې ډیر دلکشه وو |
| سنجیده | هر خبره سنجیده نه وي کله نا کله خلق ټوقې هم کوي |
| خوش بیانه | خوش بیانه یوه خوبي ده چې الله تعالیٰ کې چاته پیرزو کړې وي |
| خونی کلونه | د ماستر عبدالکریم د افسانو او لکلونو د مجموعې نوم "خونی کلونه" دے |

۳. سبق ولولئ او خالي ځایونه ډک کړئ

(الف) لسم جماعت یې د اتمانزو آزاد هائی سکول نه پاس کړه.

(ب) د آزاد هائی سکول په مالي مرسته جامعه اسلامیه دیلی ته ورستولے شو

(ج) ماستر صاحب د پښتو ډیر لوئے ادیب وو

(د) په "پښتون" مجله کښې به یې د "نئی دنیا" تر عنوان لاندې لیکل کول

(هـ) د جرمن جهازونو په لندن بمبارۍ وکړه

(و) په کال 1942ء کښې چې کله تخت یا تخته تحریک شروع شو

(ز) هغه یې د چینکلی د آزاد سکول معائنه وکړه.

(ح) د ماستر صاحب افسانو او لکلونو مجموعه "خونی کلونه" په نامه چاپ شوې ده

✿✿✿✿

## دَ بې هوشۍ دارُو

۱. د لاندینو سوالونو لنډ جوابونه ولیکئ

(الف) نن سبا چې اپر یشنونه اسان شوی دی نو دا د څه په وجه؟

جواب: نن سبا چې اپریشنونه اسان شوی دي نو د دې وجه دا ده چې مریض ته د بې هوشۍ دارو ورکولے شي

(ب) د بې هوشۍ دارو چا ایجاد کړل؟

جواب: د بې هوشۍ دارو ولیم ټی جی مورټن ایجاد کړې ده

(ج) د بې هوشۍ ورومبۍ دارو څه نوم لرلو؟

جواب: د بې هوشۍ د دارو ورومبے نوم ایتهر وو

(د) د بې هوشۍ عمل اول په چا وکړې شو؟

جواب: د بې هوشۍ د عمل ورومبے آزمېښت په ګلبرټ ایبټ نومې یو مریض باندې وکړے شو

(هـ) ایبن فرسټ د غابښ ویستلو په وخت څه محسوس کړل؟

جواب: ایبن فرسټ د بې هوشۍ د دارو د استعمال په وجه درد بالکل محسوس نه کړو

Info Hub HRMS SIS SED

Scanned with CamScanner

او) په کوم هسپتال کښې مورټن د بې هوشه کولو اپرېشن کولو عملة اولسة مظاهره وکړه؟

جواب: مورټن په بوسټن کښې د ماسچیوسټ جنرل هسپتال دننه د بې هوشه کولو او اپرېشن کولو عملة اولسة مظاهره وکړه

از) د یهتر دوه عام قباحتونه په ګوته کړئ؟

جواب: ایهتر اولګونکے څیز دے او استعمال یې هر کالة اغنود کة راولة

۲. د لاندینو ټکو مترادف ولیکئ.

جواب:

| لفظ | مترادف | لفظ | مترادف | لفظ | مترادف |
|---|---|---|---|---|---|
| جراحت | اپرېشن | اوسنے | موجوده | سینه | محبت |
| دارو | دوائة | لټون | تالاش | ډاکټر | طبیب |

۳. لاندنة لفظونه په جملو کښې استعمال کړئ.

جواب:

| لفظونه | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| خطرناک | هر مرض خطرناک دے علاج یې کول پکار دی |
| اپرېشن | نن سبا دبة هوشی د دارو په وجه اپرېشن اسان شوے دے. |
| ایجاد | د بې هوشی ددارو ایجاد یو عظیم دریافت دے. |
| روغتون | زمونږ په وطن کښې هر ځائے روغتون موجود دے. |
| جراح | په روغتون کښې جراح خامخا وة. |
| مظاهره | پولیس د بهادری مظاهره وکړه او غل یې وینولو. |

۴. دَ کالم "الف" او دَ کالم "ب" الفاظ په کالم "ج" کښې جوړه جوړه کړئ.

| کالم "الف" | کالم "ب" | کالم "ج" |
|---|---|---|
| نن | مشکل | نن۔ سبا |
| تکلیف | بنځه | تکلیف۔ راحت |
| اسانیتا | کم | اسانیتا۔ مشکل |
| سړے | کمنامة | سړے۔ بنځه |
| مشهورتیا | راحت | مشهورتیا۔ کمنامة |
| زیات | سبا | زیات۔ کم |

۵. لاندې خنې لاحقې ورکړې شوې دة تاسو له هرې لاحقې

نه کم نه کم درې لفظونه جوړ کړئ

جواب: مند، ضرورت مند، عزت مند، حاجت مند

کار، خدمت کار، روزګار، بیکار

دار، امانت دار، ایمان دار، دیانت دار

ناک، دردناک، صبرناک، خطرناک

دوست، علم دوست، وطن دوست، انسان دوست

## اباسین (نظم)

د شعرونو تشریح:

وړومبے بند: شاعر د اباسین په خله وائة چې زه اباسین دسیندونو پلار یم. او د وختونو پلار هم یم. زما په هر څپه کښې ډېر رازونه او رمزونه دة او زما په غوږونکونو کښې ډېرې قیصې دة او زما په شګو کښې ډېر عظمتونه پراته دة. او ما سره ډېر عمرونه بهېدلة دة. ما د خلقو د عمرونو لاره د سرنه نیولې ده. او زه اباسین یم دسیندونو پلار یم

دویم بند: ما د نفاق ټول بندونه لاهو کړة دة. او ما ډېر قومونه په خپله غاړه خړوب کړة دة. او زما وجود کښې دیو والی رازونه پټ پراته دة. او دغه شان دیو والی رازونه هم ما سره دة. لاروېه ماته دې وار پار ولې خطا شه زه خو اباسین یم او د سیندونو پلار یم.

دریم بند: کله چې څاڅکة راغونډشول نو لښتة شول او بیا ترې خوړونه جوړ شول بیا سیندونه شول او چې ما سره یو ځائے شول نو یو لوئے قوت شة اوس نو ټول غرونه او سمې زما تابع دة.

څلورم بند: ما درته دَفطرت رازونه څرګند کړل او خلق مې د افسانونه راووېستل. او انسانان مې دَ غلامۍ دکم عقل توب نه خبر کړل. او ما دَ یو والة سندرې بیان کړې دایونوے دور دے نوے سپرلے خورشوے دے. او ما چې څوک بندیوانوة نو زما لپونتوب ورسره نور هم زیاتیږی زه اباسین یم او دَ سیندونو پلار یم. او دَ وختونو پلار یم.

## دمشقة سوالونو جوابونه

۱. دَلاندینو سوالونو جوابونه ولیکئ.

(الف) د اباسین څة معنې ده؟

جواب: د اباسین معنې د سیندونو پلار ده.

(ب) اباسین وائة چې ما دَ نفاق بندونه لاهو کړة دة د دې څة معنې ده؟

جواب: د دې معنې دا ده چې اباسین ټول پاکستان ته یو شان اوبه ورکوة او دا چې ټول دریابونه اباسین ته غورځیږة او مغه یې د ځان ملګرة کوة.

Info Hub HRMS SIS SED

Scanned with CamScanner

(ج) ښاځکونه لښتهٔ جوړ شول او لښتو نه خوړونه جوړ شول او چې خوړونه راپو ځائے شول نو څه ترې جوړ شول؟
جواب: دغه ټول چې راپو ځائے شول نو سیند ترې جوړ شو.
(د) دوحدت دترانې نه څه مراد دے؟
جواب: د وحدت د ترانې نه مراد دا دے چې خلق دے اتفاق وُکړۀ. او د یو دې شۀ نو طاقت به یې پیدا شۀ.
۲. لاندې ورکړې شوې لفظونه په خپلو جملو کښې استعمال کړئ.

| لفظونه | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| رمزونه | په یو والۀ کښې دطاقت رمزونه دی. |
| غورزنګونه | دَ اباسین غورزنګونه هر وخت دکتو جوګه دۀ. |
| نفاق | دَ یو قام دننه نفاق دَ قام کمزورۀ ده |
| خروب | زمونږ نهرې نظام د زمکو په خروبولو کښې اهم کردار تر سره کوۀ. |
| افسانې | دَدروغو افسانې دَ رښتیا ؤ ځائے نه شۀ نیوے. |

۳. د هر یو لفظ څلور (۴) هم قافیه لفظونه وُلیکئ.
پلار، ازار، وار، خریدار، نادار
رازونه، ګلونه، خوړونه، غرونه، سیندونه
سنګین، حسین، نګین، رنګین، لونګین
ترانه، افسانه، بهانه، دیوانه، پروانه
جنون، ژوندون، اسنون، مېړتون، روغتون
۴. دَ لاندینې بند مطلب په ساده او اسانو لفظونو کښې وُلیکئ.
جواب: په تشریح کښې یې وُګورئ.

❁❁❁❁

## لانس نائک محمد محفوظ شهید
### (نشانِ حیدر)

(۱) د لاندینو سوالونو لنډ لنډ جوابونه ورکړئ
(الف) ژوندۀ قامونه د خپلو مېړنو او بهادرانو سره څۀ سلوک کوۀ؟
جواب: ژوندۀ قامونه د خپلو مېړنو او بهادرانو کارنامې نۀ هېروۀ.
(ب) حضرت علیؓ او حضرت خالدؓ په کومو لقبونو یاد کړے شوے دۀ؟
جواب: حضرت علیؓ په "اسدالله" او حضرت خالدؓ "سیف الله" لقبونو یاد کړے شوے دۀ.
(ج) په فوځۀ اعزازونو کښې د ټولو نه اوچت او غوره اعزاز کوم یو دے؟ د دې اعزاز سره څو سره بهادرانو ته ورکړے شوے دے؟
جواب: په فوځۀ اعزازونو کښې تر ټولو لوئے او غوره اعزاز "نشانِ حیدر" دے.
(د) محمد محفوظ شهید چرته او کله پیدا شوے وۀ؟
جواب: محمد محفوظ شهید د راولپنډۍ په یو وړوکۀ کلۀ "پنډ ملکان" کښې په 25 اکتوبر د کال 1944 کښې پیدا شوے وۀ؟
(ه) د لانس نائک محمد محفوظ شهید د شهادت واقعه په خپلو ټکو کښې بیان کړئ.
جواب: محمد محفوظ شهید د کال 1971 په جنګ کښې دلاهور سره نیژدې د واهګه ټارۀ په سنګر جنګېدۀ، چې ورته حکم اوشۀ چې د دښمن په یو کلۀ دې قبضه وُکړۀ. محمد محفوظ شهید د توپو د ګولو په ورېدو کښې په دښمن ورغلو. هغۀ د دښمن په مورچه کښې په مشین ګن چلونکۀ یې ورودانګل. هغه یې قابو کړو. خو په سینه په ګولۍ وُلګېدۀ. او د زیاتو وینو بهېدو له کبله یې ساه ورکړه
۲. په کالم "الف" کښې د ورکړۀ شوۀ لفظونه متضاد په کالم "ب" کښې بې ترتیبه ورکړۀ شوۀ دۀ په کالم "ج" کښې یې یو ځائے کړئ

| کالم "الف" | کالم "ب" | کالم "ج" |
|---|---|---|
| خوئنان | کشر | خوئنان بوډاګان |
| بهادر | لوئے | بهادر، بزدل |
| دښمن | بوډاګان | دښمن، دوست |
| مشر | دوست | مشر، کشر |
| وړوکے | بزدل | وړوکے، لوئے |

۳. په صحیح جواب باندې نخښه وُلګوئ
(الف) ژوندی قامونه دخپلو مېړنو او بهادرو خوئنانو کارنامې نۀ هېروۀ.
(ب) په فوځۀ اعزاز کښې له ټولو اوچت او غوره اعزاز نشانِ حیدر دے
(ج) محمد محفوظ شهید په کال 1941 کښې لسم جماعت پاس کړه
(د) لانس نائک محمد محفوظ شهید د خپل ملک او قوم په خاطر د خپل سر قربانۍ ورکړه
۴. دلانس نائک محمد محفوظ شهید د ژوند مختصر

Info Hub HRMS STS SED

Scanned with CamScanner

حالات وُلیکی.

جواب: په کتاب کښې یې وُګورئ

۵. مذکر اؤ مؤنث جدا جدا وُلیکی.

مذکر: کومک، مېړنے، اولس، نیکهٔ، کلے

مؤنث: خاموشۀ، کارنامه، لور، پېغله

٦. لاندینۀ لفظونه په خپلو جملو کښې استعمال کړئ

| لفظونه | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| کارنامې | زمونږ د بهادرانو کارنامې دَ ستائېلو جوګه دۀ |
| مېړانه | دَ خوشحال خان خټک مېړانه د تاریخ برخه ده. |
| یادګارونه | دَ شهیدانو یادګارونه زمونږ د وطن سره د مینې ثبوت دے. |
| لقبٌ | دَ حضرت علیؓ لقب اسدالله وۀ. |
| اعزاز | دپاکستان دَ ټولونه لوئے فوځۀ اعزاز نشان حېدر دے. |
| باکسنګ | دِ باکسنګ لوبه یوه خطرناکه لوبه ده. |

## په مردان دَ باچا خان مارچ

۱. دوئم جنګ عظیم په کومه زمانه کښې شوے وۀ؟

جواب: دوئم جنګ عظیم دَ کال 1939ء نه تر کال 1942. پورې زمانه کښې شوے وۀ.

۲. حکومت دَ کانګرس پارټی دَ سرمشران ولې ګرفتار کړل؟

جواب: حکومت د کانګرس پارټی دَ سرمشران ځکه ګرفتار کړل چې دوۀ دَ جنګ عظیم خلاف وۀ. اؤ حکومت د هندوستان اړخه په جنګ کښې دَ شمولیت اعلان وُکړو. کانګرس په یو لسو (11) صوبو کښې حکومت کؤلونو استعفی یې ورکړه. اؤ دَ آزادی حاصلولو اعلان یې وُکړو.

۳. سکندر مرزا څوک وۀ؟

جواب: سکندر مرزا دَ پېښور ډپټۀ کمشنر وۀ. چې بیا وروستو دَپاکستان صدر شه. دَ فرنګیانو خاص سړے وۀ د آزادۀ خوښو دښمن وۀ.

۴. باچا خان کوم تحریک شروع کړۀ اؤ خدائۀ خدمت ګارو به څۀ کؤل؟

جواب:باچا خان په کچرو دَ چپاوؤنو کؤلو پروګرام جوړ کړو خدائۀ خدمت ګار به تلل اؤ سرکارۀ نوکرانو ته به یې وئیل چې راځئ چې فیرنګے په شریکه د ملک نه وُباسو. نو هم تاسو به په دې کرسهو ناست یئ.

۵. د باچا خان مردان ته د دا خلېدو اؤ د خدائۀ خدمت ګارو په دې موقع د نظم وضبط مظاهره په خپلو لفظونو کښې بیان کړئ

جواب: سحر باچا خان سره د پنځوسو خدائی خدمت ګارو مردان ته داخل شه. د میرو بس بابا زیارت سره ورته د پېرنګی نوکران ټوپکو په لاس ولاړوۀ. هغه پنځوسو خدائی خدمت ګارو د باچا خان کېره اچؤلې وه اؤ مخکښې روان وۀ. پولیس په وهل ټکؤل اؤ د دوۀ به مخ په وړاندې روان وۀ چار چاپېره دنور ډېر خلق اؤ خدائی خدمت ګار ولاړوۀ خو هغوئ ته حکم شوے وۀ چې دوۀ به مداخلت نه کوۀ اؤ د نظم وضبط دا حال وو. چې چا هم مداخلت وُنه کړو په دغه دوران کښې په باچا خان خوشدل نومۀ یو سپاهۀ په باچا خان ګذارونه وُکړل چې پښتی یې ورله ماتې کړې هغه به دې ردې وُنیلې نو باچا خان ورته اووې چې عبث خبرې مۀ کوه. خه خپله تنخواه دې حلاله کړه نور ته زما نه څۀ غوارۀ

٦. د لاندینو تکو مترادف وُلیکی

| لفظ | مترادف | لفظ | مترادف |
|---|---|---|---|
| وړاندې | مخکښې | نقصان | تاوان |
| شرکت | ګډون | بریٰ | فتح |
| محبوب | خوږ | بې شانه | زیات |

۷. لاندینو لفظونو واحد/جمع وُلیکی.

| واحد | جمع | واحد | جمع |
|---|---|---|---|
| جېل خانه | جېل خانې | چپاؤ | چپاؤونه |
| تحریک | تحریکونه | مجاهد | مجاهدین |
| شهید | شهیدان | اسپتال | اسپتالونه |

۸. لاندینۀ لفظونه اؤ ترکیبونه په خپلو جملو کښې استعمال کړئ.

| لفظونه اؤ ترکیبونه | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| ستغې سپورې | هر چاله پکار دۀ چې ستغې سپورې نه وائۀ |
| زړۀ تشول | سپاهۀ غل دومره اووهلو چې زړۀ یې پرې تش کړو باچا خان او خدائی خدمت ګارو |
| عدم تشدد | همیشه له عدم تشدد نه کار اخستے دے |
| دَپ عزمه | د سحر نه کچه عزمه شوه خو ایمل خان لا اوده دے |

Info Hub HRMS STSED

Scanned with CamScanner

| | |
|---|---|
| قدرت | قدرت د خپل پېدا وښت ساتنه او پالنه کوۀ. |
| خوبنی | د نېکانو خلقو خوبنی د خېر ښېګړې په کارونو ده. |
| جوپو جوپو کښې تلل | د مېچ لیدلو له په جوپو جوپو زلمی روان وو. |
| نظم وضبط | د هر تنظیم او تحریک دپاره نظم وضبط ډېر اهمیت لري. |

## میا سېد رسول رسؔا

۱. دَلاندینۀ سوالونو لنډ جوابونه ولیکی.

(الف) میا سېد رسول رسؔا کله او چرته پېدا شوے وۀ؟

جواب: میا سېد رسول رسؔا په لسم اپریل کال 1940ء کښې په بدربنو (ضلع نوبنار) کښې پېدا شوے وۀ.

(ب) میا سېد رسول رسؔا خپله زده کړه چرته حاصله کړې وه؟

جواب: میا سېد رسول رسؔا لسم جماعت دَ نوبنار دَ اسلامیه هائی سکول نه ایف، اے (F.A) او بۀ اے (B.A) یې دَ اسلامیه کالج پېښور نه او بی ټۀ (B.T) یې دَ لاهور نه کړې وه.

(ج) میا سېد رسول رسؔا کوم کوم خصوصیات لرل؟

جواب: میا سېد رسول رسؔا یوښۀ شاعر، نقاد، ناول نګار، افسانه نویس، ډرامه نګار، سرونح نګار، ښۀ متنظم، او یوښه افسر وۀ.

(د) دَ نوبنار پښتو ادبۀ جرګه کله جوړه شوې وه، او پکښې څوک څوک شامل وو؟

جواب: دَ نوبنار ابدۀ جرګه په کال 1933ء کښې جوړه شوې وه او حمزه شنوارۀ، عبدالله، اجمل خټک، سمندر خان، فیاض، عبدالغفران بېکس، اشرف مفتون، او غني نور پکښې شامل وو.

(ه) په سانګ پبلسټی کښې دَ رسؔاصاحب څۀ عهده وه؟

جواب: په سنګ پبلسټی کښې دَ رسؔا صاحب عمده دَ ریجنل ډائیرکټر وه.

(و) رسؔا صاحب کله دَ پښتو اکېډیمی پېښور یونیورسټی ډائیرکټر وټاکلے شه؟

جواب: رسؔا صاحب په کال 1969 کښې دَ پښتو اکېډیمی پېښور یونیورسټی ډائیرکټر وټاکلے شه.

(ز) دَ رسا صاحب په کتابونو کښې دَ دریو (۳) کتابونو نومونه ولیکی.

جواب: دَ دریو (۳) کتابونو نومونه (۱) دَ بېدیا ګلونه (۲) باغ وراغ (۳) خودکشۀ

(ح) رسؔا صاحب په کومو حیثیتونو د قام او ملک خدمت کړے دے؟ هغه استاذ پاتے شوے دے، پرېس اتاشۀ پاتے شوے دے، ډائیرکټر پاتې شوے دے او د مجلس شورئ غړے هم پاتې شوے دے.

(ط) رسؔا صاحب کله وفات شه او چرته دفن دے؟

جواب: رسؔا صاحب په 14 اکتوبر کال 1990ء کښې وفات شه او په بدربنو کښې دفن کړے شه.

۲. په خالۀ خایونو کښې صحیح لفظونه ولیکئ.

(الف) د رسؔا صاحب دپلار نوم محمد سعید وۀ.

(ب) په کال 1934ء کښې دَ بۀ ټۀ (B.T) کولو دپاره لاهور ته لاړۀ.

(ج) په کال 1933ء کښې په نوښار کښې پښتو ادبۀ جرګه قائمه کړې شوه.

(د) دَ خدائۀ خدمت ګار په جارۀ کړې شوې رساله پښتون کښې به د رسؔا صاحب نظم او نثر شائع کېدل.

(هـ) په کال 1969ء کښې دَ پښتو اکېډیمی پېښور یونیورسټی ډائرکټر مقرر شۀ.

۳. غلطو فقروته "غ" او صحیح فقروته "ص" ولیکی

(الف) په پښتو ادب کښې میا سېد رسول رسؔا کن حېثیتونه لرۀ. (ص)

(ب) رسؔا صاحب لسم جماعت داسلامیه کالج پېښور نه پاس کړه (غ)

(ج) په کال 1941ء کښې دَ نوۀ ډیلۀ نه حکومت "نن پرون" یوه رساله جارۀ کړه. (ص)

(د) دَ هند دَ تقسیم په وخت رسؔا صاحب په کلۀ کښې وۀ (غ)

۴. د کالم "الف" کوم الفاظ چې د کالم "ب" الفاظو سره سمون خورۀ هغه په کالم "ج" کښې ولیکی.

جواب:

| کالم "الف" | کالم "ب" | کالم "ج" |
|---|---|---|
| پښتو | ټیچر | پښتو. ادب |
| ایک. خېلو | جهاز | ایک خېلو. میاګانو |
| سائنس | جرګه | سائنس. ټیچر |
| ادبۀ | ادب | ادبۀ. جرګه |
| هوائۀ | اتاشۀ | هوائۀ. جهاز |
| پرېس | میا ګانو | پرېس. اتاشۀ |

Info Hub HRMS STS SED

Scanned with CamScanner

۵ د لاندې لفظونو اپوته یا متضاد ولیکئ

| لفظ | متضاد | لفظ | متضاد |
|---|---|---|---|
| روښانه | تیارۀ | عزت منده | بې عزته |
| عالم | جاهل | ډېر | لږ |
| ترقۀ | تنزل | آزادۀ | غلامۀ |
| زیان | گټه | | |

۶ د لاندې ورکړې شوې سابقونه نوې الفاظ جوړ کړئ

| سابقه | الفاظ |
|---|---|
| نا | ناخوښه، نالوستۀ، ناپوهه، نامعلومه |
| خوش | خوش قسمته، خوش هلته، خوش خبرۀ، خوش بخت |
| نیک | نیک عمل، نیک اختر، نیک بخت، نیک ښځې |
| بد | بدعمله، بدقسمته، بد هلته، بد باطنه |

❁❁❁❁

## ابنِ خلدون

(۱) د لاندینو سوالونو لنډ جوابونه ولیکئ

(الف) د ابن خلدون خپل نوم څۀ وۀ؟

جواب: د ابن خلدون خپل نوم ابوزید عبدالرحمان بن محمد وۀ

(ب) د ابن خلدون دپلار څۀ نامه وه؟

جواب: د ابن خلدون دپلار نامه محمد وه

(ج) ابن خلدون کله او کوم ځائے پیدا شوے وۀ؟

جواب: ابن خلدون په 732هـ مطابق د 1332ء کښې پیدا شۀ. دے په تیونس کښې زیږېدلے وۀ.

(د) د ابن خلدون دَ شهرت اصل سبب څه وۀ؟

جواب: د ابن خلدون د شهرت اصل سبب "د ابن خلدون مقدمه" نومې کتاب دے.

(هـ) د ابن خلدون د ماشوم والۀ نه څۀ خوښې وې او شوق یې څه وۀ؟

جواب: د ابن خلدون د ماشوم والۀ نه د ب دشهنو په صحبت کښې ناسته خوښه وه او دايې شوق وۀ

(و) ابن خلدون په 764هـ کښې کوم ځائے ته تلے وۀ؟

جواب: ابن خلدون په 764ء کښې اندلس ته لاړو. چې د غرناطې والي يې دروند هر کلے وکړۀ

(ز) ابن خلدون مصر ته کله رسېدلے وۀ؟

جواب: ابن خلدون په کال 784هـ کښې مصر ته اورسېدۀ.

(ح) ابن خلدون کله او کوم ځائے وفات شوے دے؟

جواب: ابن خلدون په 808هـ کښې په مصر کښې وفات شۀ

۲ د کالم "الف" تکڅه د کالم "ب" او د کالم "ج" د تکو سره یو ځائے کړئ

جواب:

| کالم "الف" | کالم "ب" | کالم "ج" |
|---|---|---|
| استاذ | اندلس | استاذ زده کړه |
| درېمې | ادب | درېمې صدۍ |
| عربۀ | صدۍ | عربۀ ادب |
| غرناطه | زده کړه | غرناطه اندلس |
| جامعه | ازهر | جامعه ازهر |

۳ خالۍ ځایونه په مناسبو تکو ډک کړئ

الف په خپل فن کښې بے مثاله شۀ

ب په جامعه ازهر کښې استاذ شۀ

ج د حادثاتو يې وجوهات بيان کړئ

۴ مذکر او مونث جدا جدا کړئ

مذکر: نیکه عالم قاضۀ تصنیف

مونث: غېږه استاذه غصه کشتی

۶ د لاندینو تکو جمع ولیکئ

| واحد | جمع | واحد | جمع |
|---|---|---|---|
| نواب | نوابان | نیکۀ | نیکونه |
| حاسد | حاسدان | پرېشانۀ | پرېشانی |
| علم | علمونه | مورخ | مورخان |
| | | سفر | سفرونه |

## اتم مارچ دَ ښځو عالمی ورځ

(۱) د لاندینو سوالونو لنډ جوابونه ولیکئ

(الف) اتم مارچ په کومه نامه بللے شی؟

جواب: اتم مارچ دښځو د عالمۀ ورځ په نامه بللے شی

(ب) اقوام متحده کومې ورځې خاص کړۀ دۀ؟

جواب: اقوام متحده ځنې ورځې خاص کړې دی لکه دمزدورانو ورځ، د مورینو ژبو ورځ، دماشومانو ورځ او ځنې نورې

(ج) ددې ورځې بنیاد چا او کله کېښود؟

جواب: د دې ورځې بنیاد د امریکې سوشلسټ پارټۍ کېښودۀ. دې نه پس په اگست کال 1910ء کښې د انټرنېشنل ووَمن کانفرنس د دې ورځې په عالمی سطح د نمانځنې اعلان وکړو.

(د) په کال 1910ء کښې کوم کانفرنس شوے وۀ؟

جواب: په کال 1910ء کښې انټرنېشنل ووَمن کانفرنس شوے وۀ.

(هـ) دَ پاکستان متفقه آئين کله جوړ کړے شوے دے؟
جواب: دَ پاکستان متفقه آئين په کال 1973ء کښې منظور کړے شوے دے
(و) دَ پاکستان په آئين کښې دَ ښځو باره کښې څۀ ليکلۀ شوۀ دۀ؟
جواب: دَ پاکستان په آئين کښې وائۀ چې دَ قانون په وړاندې ټول يو برابر دۀ۔ دَ جنس په لحاظ څه امتياز نۀ وۀ۔ دَ ښځو اؤ ماشومانو به تحفظ کؤلے شۀ۔ په ټولو شعبو کښې دَ ښځو شموليت يقينة کؤل دۀ۔
(ز) دَ ښځو دَ حقوقو اؤ مساوۀ حيثيت لوظ نامه باندې څومره ملکونو اتفاق کړے دے؟
جواب: په کال 1989ء کښې کم وزيات سلو (100) ملکونو دَ ښځو دَ حقوقو اؤ مساوۀ حيثيت په لوظ نامه دستخطونه کړۀ دۀ۔
(ح) زمونږ په وطن او په خاصه توګه خيبر پښتون خوا کښې ښځو کومې ستونزې دۀ؟
جواب: په خيبر پښتون خوا کښې ښځو ته ډېر مشکلات دی۔ لکه دَ خواندګۍ شرح يې کمه ده۔ جينکو ته اعلی تعليم نه ورکوۀ۔ دَ ښځو ملازمت او نوکرۀ بده خبره ګڼلې شۀ۔ دَ کم عمر دَ جينکو ودولو رواج دے۔
(ط) زمونږ په وطن کښې دَ ښځو آبادۀ په سلو (100) کښې څومره ده؟
جواب: دَ ښځو آبادۀ په سلو (100) کښې دوه پنځوس (52) ده۔
(ۍ) اسلام ښځو ته کوم حقوق ورکړۀ دۀ؟
جواب: اسلام ښځو ته ډېر حقوق ورکړۀ دۀ لکه دَ تحفظ حق، دَ تعليم حق، دَ خپلې خوښې دَ ژوند حق، دَ وراثت حق اؤ څنې نور۔
۲۔ دَ صحيح جواب انتخاب وُکړۀ۔
(الف) دَ ښځو عالمة ورځ کله نمانځلے شی؟ (په اتم مارچ)
(ب) دَ ښځو عالمة جلسه کله وُشوه؟ (په اګست 1910ء کښې)
(ج) دَ ملک ټول وُګړۀ دَ څۀ په وړاندې يو شان دۀ؟ (دَ قانون په وړاندې)
(د) په کال 1996ء کښې څو ملکونو دَ لوظ نامې دَ پابندۍ لوظ وُکړو؟ (سلو ملکونو)
۳۔ دَ صحيح اؤ غلطو جملو پېژنګلو وُکړئ۔
(الف) 22 فرورۀ دَ مورينوژبو عالمة ورځ ده (صحيح)
(ب) د ښځو دَ عالمة ورځې بنياد د امريکې سوشلسټ پارټۍ کېښنوده۔ (صحيح)
(ج) په کال 1948ء کښې دَ ښځو حالت د نظر لاندې ساتل اؤ د هغوۀ دَ حقوقو دپاره اقوام متحده يو تنظيم قائم کړے وۀ (غلط)
(د) په خيبر پښتون خوا کښې ښځو ته هيڅ مشکلات نشته۔ (غلط)
۴۔ دَ کالم "الف" ورکړۀ شوۀ کوم الفاظ چې دَ کالم "ب" سره سمون خورۀ هغه په کالم "ج" کښې يو ځائے وُليکئ۔

| کالم "الف" | کالم "ب" | کالم "ج" |
|---|---|---|
| اخبارونه | کتل | اخبارونه۔ مطالعه |
| ريډيو | کارونه | ريډيو۔ اوريدل |
| ټۀ، وۀ | مطالعه | ټۀ وۀ۔ کتل |
| سماجۀ | نامه | سماجۀ۔ کارونه |
| لوظ | اوريدل | لوظ۔ نامه |

۵۔ لاندينۀ لفظونه په خپلو جملو کښې استعمال کړئ۔

| لفظونه | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| عالمة ورځ | اتم مارچ دَ ښځو عالمة ورځ ده۔ |
| اقوام متحده | دَ اقوام متحده سره سلو ملکونو دَ ښځو دَ حقوقو په لوظ نامه لاس ليکونه کړۀ دۀ۔ |
| سيمه | زمونږ په سيمه کښې دَ ښځو سره ښۀ سلوک نۀ شۀ کؤلې۔ |
| پارټۍ | هره پارټۍ غواړۀ چې اقتدار تر لاسه کړۀ۔ |
| جلسه | په جلسه کښې ډېرو خلقو تقرير واوريدۀ |
| آئين | آئين دَ يو ملک دَپاره ډېر زيات ضرورۀ وۀ۔ |
| لوظ نامه | هر لوظ نامه چې څوک وُکړۀ نو بيا يې پابندة کؤل ضرورۀ دۀ |
| دستاويز | آئين يو مقدس دستاويز وۀ۔ |

۶۔ دَ لاندينو لفظونو درست تلفظ وُکړئ۔
جواب: اِنْټَرْنَيْشَنَلْ۔ اِقْتِصَادِيَاتْ۔ سُوْشِلِسْټْ۔ کَلِيْزَه۔ تَنْظِيْمْ۔

## ايډيسن

۱۔ دَ لاندينو سوالونو جوابونه وُليکئ۔
(الف) ايډيسن کله اؤ په کوم ځائے کښې پېدا شۀ۔
جواب: ايډيسن په 11 فرورۀ 1847ء کښې دَ امريکې په رياست اوهائيو کښې وزيږيدۀ۔
(ب) د ايډيسن دَ مور اؤ پلار نومونه څۀ وؤ؟
جواب: دَ ايډيسن دَ پلار نوم سيمو ئيل ايډيسن اؤ دَ مور نوم

Info Hub HRMS SIS SED
Scanned with CamScanner

یې اولډ ټورة جان وو.

(ج) ایډیسن په وړوکوالۀ کښې سوالونه ولې کوّل؟

جواب: هغه ډ هرې حقیقت معلومولو په دې وجه به یې ډېر سوالونه کوّل.

(د) ایډیسن تر څنګه معلومه شوه چې چرګوټی له هګیو نه پېدا کیږۀ؟

جواب: هغه په خپله وُلیدل چې هګئ وُچاؤده. او چرګوټے ترې رابهر شۀ. نو بۀ ډ هغه یقین راغې چې چرګوټۀ له هګیو نه پېدا کیږۀ.

(هـ) ډ ایډیسن ډ سکول او استاذنه ولې نفرت پېدا شۀ.

جواب: په سکول به استاذ ډ هغه ډ سوالونو جواب نه ورکوّلو او هغه به یې رټلو او ډ سکول هلکانو به هم هغه تنګوّلو ډ هغۀ داستاذ او سکول نه نفرت پېدا شۀ.

(و) ایډیسن ډریل په ډبه کښې کوم اووۀ ورځنے اخبار جارۍ کړے وو؟

جواب: ایډیسن ډ ریل په ډبه کښې اووه ورځنے اخبار "هېرلډ" جارۍ کړے وۀ.

(ز) ډ ایډیسن ډ دوه مشهورو ایجادونو نومونه وُلیکئ.

جواب: ډ ایډیسن دوه مشهور ایجادونه (۱) ډ آواز ریکارډ کوّلو مشین (۲) ډ بجلۍ بلب

(ح) ډایډیسن نوم ولې په احترام اخستے شي؟

جواب: ایډیسن ډدنیا ډ انسانانو ډ ښېګړې ډپاره کار کړے دے څکه نو نوم یې په احترام اخستے شۀ.

(ط) ایډیسن کله مړ شۀ؟

جواب: ایډیسن په 18اکتوبر 1931کښې مړشۀ او په 21اکتوبر کال 1931ء کښې دفن کړے شۀ.

(ۍ) ایډیسن څومره ایجادونه کړۀ دۀ؟

جواب: ایډیسن لوئے وړه قریباً دوه سوه (200) ایجادونه کړۀ دی.

۲. صحیح جملو ته "ص" او غلطو ته "غ" وُلیکئ.

(الف) ډ ایډیسن ډ پلار نوم سیموئېل ایډیشن وۀ(ص).

(ب) ډ ایډیسن په کور یې ډ پلار خورزه وُسېده (غ)

(ج) ډ ایډیسن پلار ډ لرګو په کارخانه کښې نوکر وۀ(ص)

(د) ایډیسن محسوسه کړه چې استاذ ته هر څۀ معلوم دی(غ)

(هـ) مور ورته ووېئل چې که دې خوښه وۀ نو زۀ بۀ دې استاذه شم(ص)

۳. لاندینۍ لفظونه په خپلو جملو کښې استعمال کړئ

| لفظونه | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| چرګوټۀ | چرګوټۀ ساتل ډ ګټې کاروبار دے |
| ډ بوډۍ تال | دوریخ سره چې نمر څرګند شۀ نو په اسمان کښې ډ بوډۍ تال جوړ شۀ. |
| ایډیټر | ډ اخبار ایډیټر همېشه کوشش کوۀ چې خپل اخبار په ښو خبرونو ډک کړۀ. |
| کمپوزر | هر یو کمپوزر ډ صحیح لیکلو کوشش کوۀ |
| پرنټر | ډ کتابونو پرنټرانو ډ خپلو کتابونو ډېر حفاظت کوی. |
| مېنجر | ډکمپنۍ مېنجر په خپلو کارکنانو مهربانه وۀ |
| ټیلی ګرام | ډ ټیلۀ ګرام په ذریعه یې ضرورۀ اطلاع ورکړه |
| ټیلۀ پرنټر | رېډیو. اخبارونو او ټی وی ته ډ ټیلی پرنټر په ذریعه تازه خبرونه راځي. |
| متحرک | ایډیسن یو متحریک انسان وۀ. |
| ایجاد | ډ ایډیسن ایجادونه تر اوسه پورې ډ انسانانو په ښېګړه راځۀ. |

۴. ډلاندینو ټکو صحیح تلفظ وُکړئ.

جواب: تَجَسُّس. طِلِسُم. پَپوسُت. کَورکۀ. مُطمَئِن. غِبۀ. اضافَه

## ډوطن سندره (نظم)

ډ شعرونو تشریح:

وړومبے بند: شاعر وطن ته وائي چې تا به ډ مینې په سپرلو رنګ کړم او تاسره مې دا لوظ دے چې تا به ښاد کړم. زۀ ستاله خاورې پېدا یم او هم په دغه خاورۀ ژوند تېروم. څکه په تاقربان او په تامئن یم. ته زما ډ آرام ځائے یې او زۀ به ستا ښانسټ راولم. او ډ مینې په سپرلو به دې رنګ کړم.

دوئیم بند: وائي چې که ستا غرونه دۀ که سیندونه دی که شاړې دۀ او یاداګونه دۀ که دا وُنې دۀ که آبشارونه دی او که دګلونو باغونه دۀ، نوزۀ به یې ښکلا په سمه او غرخوړۀ مه او تا به ډ مینې په پسرلو رنګ کړم.

درېیم بند: شاعر وائي چې زه دې په شعرونو او سندرو کښې صفتونه کوم. او زه ستا سندرې ویونکے شاعر یم. ته زما ډ زړۀ ارمان یې او زۀ به سرله تانه ځار کړم. او تا به ډ مینې په سپرلو رنګ کړم او دامې وعده وه چې تا به ښاد کړم.

ډمشقۀ سوالونو جوابونه

۱. ډ لاندینو سوالونو لنډ جوابونه وُلیکئ.

Info Hub HRMS GIS SED

Scanned with CamScanner

(الف) شاعر دَ وطن کوم کوم څیزونه یاد کړ دة؟

جواب: شاعر دَ وطن غرونه، سیندونه، شاړي، ډاګونه، آبشارونه، ونې، اؤ دَ سرو ګلو باغونه یاد کړۀ دۀ۔

(ب) وطن تا یې "دَسکون کور" ولې وئیلے دے؟

جواب: هر چا ته خپل وطن عزیز وۀ۔ ځکه چې نو شاعر ورته دَ آرام اؤ سکون کور وئیلۀ دۀ۔

(ج) دَسمه اؤ غرنه څۀ مراد دے

جواب: سمه مېدانی علاقې ته وائۀ اؤ غر دَ غرئیزې علاقې نوم دے۔ مطلب یې دا دے چې ټول وطن۔

(د) په شعرونو اؤ سندرو کښې شاعر دَ چا ستائینه کړې ده؟

جواب: په شعرونو اؤ سندرو کښې شاعر دَ خپل وطن ستائینه کوۀ۔

۲۔ لاندیني خالۀ ځایونه په مناسبو ټکو سره ډک کړئ۔

(الف) ستا خاوړې نه پېدا یم هم ستا په خاوړه پائم۔

(ب) په تاباندې قربان یمه په تاباندې شهدایم۔

(ج) ستا غرونه ستا سیندونه اؤ ستا شاړې ستا ډاګونه۔

(د) دا وُنې آبشارونه اؤ دَسرو ګلو باغونه۔

(ر) دَ مینې په سپرلو به دې وطنه رنګومه۔

۳۔ دَلاندینو ټکو هم قافیه یا یوشان آوازلرونکی الفاظ وُلیکئ۔

ښاد: آباد۔ ښاد۔ بنیاد۔

غر۔ ویجاړې۔ خراړې۔ لاړې

قربان۔ جهان۔ ودان۔ وران

۴۔ دَ لاندینۀ بند نثر وُلیکئ۔

جواب: په تشریح کښې یې وُګورئ۔

۵۔ دَ لاندینو ټکو متضاد یا اپوټه وُلیکئ۔

| لفظ | متضاد | لفظ | متضاد | لفظ | متضاد |
|---|---|---|---|---|---|
| سکول | بې آرامي | سپرلے | خزان | اباد | وران |
| مینه | کرکه | غر | سمه | | |

۶۔ یوشان معنې لرونکۀ الفاظ یو ځائے کړئ۔

جواب:

| کالم "الف" | کالم "ب" | کالم "ج" |
|---|---|---|
| مینه | ارام | مینه۔ محبت |
| شهدا | بهار | شهدا۔ مئین |
| سکون | محبت | سکون۔ آرام |
| سپرلے | حسن | سپرلے۔ بهار |
| ښکلا | مئین | ښکلا ۔ حسن |

۷۔ دَلاندینو ټکو معنې وُلیکئ۔ اؤ په جملو کښې یې استعمال کړئ۔

| لفظونه | معنې | په جملو کښې استعمال |
|---|---|---|
| شهدا | مئین | هر څوک په خپل وطن شهدا وی |
| شاړې | بنجرزمکه | دَ وطن ټول مېدانونه اؤ شاړې دَ قدر وړ دۀ۔ |
| آبشارونه | اوبه چې دَ بره نه راغورځیږۀ | زمونږ په غرونو کښې ډېر آبشارونه موجود دی۔ |
| نغمه ګر | سندرې ویونکے | شاعران تل دَ وطن نغمه کروۀ۔ |

❁❁❁❁

## موخه

## دَ پښتو یوه روایتۀ لوبه

۱۔ دَلاندینو سوالونو جوابونه ورکړئ۔

(الف) موخه څنګه لوبه ده؟

جواب: موخه ویشتل دَتیراندازی یا غشۀ ویشتلو لوبه ده۔

(ب) دَ موخې ویشتو لوبه په کومو کومو سیمو کښې رواج لری؟

جواب: دَموخې ویشتو لوبه په مردان، صوابی، الائۀ، بټګرام، بونیر اؤ کراچی کښې هم کولې شۀ۔

(ج) "سرچۀ" او "نرے" چاته وائۀ؟

جواب: "سرچۀ" کپتان ته وئیلۀ شۀ۔ "نری" نائب کپتان ته وائۀ۔

(د) "ډک سودونه" څه معنی لرۀ؟

جواب: دَ کوم ټیم "سرچی" یا دَ هغه "نری" به که خپل ګذارونه خطا کړل نو دَ دې نتیجه به دا شوه چې دَهغوۀ ګذارونه به هم خطا لاړل خو مخالفې ډلې یا ټیم به دغه یو ګذار په دوۀ دَحسابؤلو اؤ دې ته یې "ډک سودونه" وئېل۔

(هـ) لیندۀ څۀ وی اؤ دَ څۀ نه جوړیږی؟

جواب: لیندۀ دَغشی ویشتلو دَپاره استعمالؤلې شی اؤ زیات څیزونه غواړی لکه سلبخ، دَ ځاروۀ ښکر ووژه، پلې اؤ دَ تاغه لرګے۔

(و) بُت څۀ ته وائۀ؟

جواب: دا دَلسو (10) اتو (8) ختو یو پېله (برخی) وۀ چې په دهکښې موخه کېښودې شۀ اؤ په نخښه کولې شۀ۔

(ز) غشے دَ کوم لرګۀ نه جوړولے شۀ اؤ دغه چرته تر لاسه کېدے شی؟

جواب: غشے دَ "لانګا" نومې لرګۀ نه جوړولے شۀ دا بوټے

Info Hub HRMS SIS SED

Scanned with CamScanner

دَبونېر سره خو اؤ شا غرونو ،پورن چکېسر اؤ دَ جمو اؤ کشمیر په غرونو کښې موندے شۀ۔

(ح) ''توبرے'' دَ غشۀ کومه برخه ده؟

جواب: دَغشۀ په سر کښې دَ اوسپنې یو ''تامړے'' لګېدلے وۀچې دَ غشۀ دغه برخې ته ''توبرے'' وئیلۀ شۀ۔

۲۔ لاندینۀ لفظونه په خپلو جملو کښې راوُلی۔

جواب:

| لفظونه | جملې |
|---|---|
| لَو | دَ فصل دَلو کؤلو په وخت کروندګر خوشحالی کوۀ۔ |
| کړۀ وړۀ | دَ هر بنده کړۀ وړۀ دَبل جُدا وۀ۔ |
| تکی | په موخه ویشتلو کښې تکی ویشتل بنۀ کافۀ مهارت غواړۀ۔ |
| مړنے | څوک چې په متهو مړنے وۀنو هغه موخه ویشتے شۀ۔ |
| لیندۀ | لیندۀ رابنکل دَمتهو طاقت اؤ زور غواړۀ۔ |
| هدف | خپل هدف ویشتل دَ هر چا کار نه دے۔ |
| توبرے | دَغشۀ دَ تامړے جوړه برخه توبرے بللے شي۔ |

۳۔ جملې پوره کړئ۔

(الف) ځنې لوبې هلکان اؤ جینکی دواړه کوۀ۔

(ب) دَ موخې ویشتلو لوبه پخوانی لوبه ده۔

(د) پخوا دَ موخې دَ لوبې دَپاره شپږ شلے ګذارونه وؤ۔

(د) په لوبه کښې دَ تولو نه اهم څیز لینده ده۔

(هـ) غشے دَ لانګا نومې بوټۀ نه جوړیږۀ۔

۴۔ صحیح اؤ غلطې جملې بېلې بېلې وُلیکئ۔

صحیح جملة: (الف) په دنیا کښې دَ هر قوم او اولس خپلې خپلې لوبې دۀ۔ (ج) دَ لیندې قیمت زیات وۀ۔ (هـ) دَ موخې ویشتلو مقابلې هر کال کیږۀ۔

غلطې جملې: (ب) دَ موخې ویشتو لوبه نوې لوبه ده۔ (د) دَ غشۀ برنی هې ته څوکه وائۀ۔

۵۔ دَواحد جمع او دَجمعې واحد وُلیکئ۔

| واحد | جمع | واحد | جمع |
|---|---|---|---|
| قوم | قومونه | لوبه | لوبې |
| غشے | غشۀ | کلے | کلۀ |
| مقابله | مقابلۀ | ورځ | ورځۀ |
| پښتون | پښتانه | ګذار | ګذارونه |

❁❁❁❁

## امين الحسنات صاحب ۔ پير مانكة شريف

(الف) دَ پاکستان دَ تحریک خصوصیات بیان کړئ

جواب: دَپاکستان دَ تحریک خصوصیات دادۀ چې په دې تحریک کښې دَ مسلمانانو هرې طبقې شرکت کړے وۀ۔ دغه تحریک مسلمانان دَیو خپل واکه اسلامی ملک خاوندان کړل۔ دغه تحریک دَ دنیا په نقشه یو لوے ملک راپیدا کړو۔

(ب) دَ پیر مانکۀ شریف خپل نوم څۀ وۀ۔ اؤ دَ دوۀ نیکه دَ چانه لاس نیوه کړې وه؟

جواب: دَپیر مانکۀ شریف خپل نوم امین الحسنات وۀ۔ اؤ دَ دوۀ نیکه دَ سوات دَ اخون صاحب نه لاس نیوه کړې وه۔

(ج) دَ پیر مانکۀ شریف مریدان په کومه نامه بللۀ شۀ؟

جواب: دَ پیر مانکۀ شریف مریدان په عامه توګه دَ مانکۀ دَ شیخ په نامه بللے شۀ۔

(د) قائداعظم محمد علی جناح دَپیر مانکی شریف سره په وړومبۀ وار کله ملاقات وکړۀ؟

جواب: قائداعظم محمد علی جناح په وړومبې وار په کال 1945ء کښې دَ پیر مانکی شریف سره ملاقات وُکړو۔

(هـ) دَپیر مانکی شریف دَوفات حالات بیان کړئ او اولس یې ولې یادوی؟

جواب: پیر مانکی شریف په 28جنوری 1960ء کښې دَ سړک په یوه حادثه کښې په حق اورسېدۀ۔ اولس یې ځکه یادوی چې هغه دَ خلقو خېر خواه وؤ۔ اؤ دَ پاکستان دَ تحریک یو سرګرم کارکن وۀ۔

۲۔ لاندینی لفظونه په خپلو جملو کښې راؤلی؟

جواب:

| لفظونه | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| نقشه | دَپاکستان په جوړېدو دَدنیا نقشه بدله شوه |
| تحریک | دَپاکستان تحریک دَیو آزاد اؤ خپلواکه ملک دَپاره لاره هواره کړه |
| شیخ | دَپیر مانکۀ مریدان دَ مانکۀ شیخ په نامه بللے شۀ۔ |
| تنازعه | دَکشمیر دَ تنازعې حل دا دے چې دا دَ اقوام متحده دَقرار دادون مطابق حل کړے شۀ۔ |
| کانفرنس | دوئم اسلامی سربراه کانفرنس په لاهور کښې اوشو۔ |

| | |
|---|---|
| ریفرنډم | جنرل ضیاء الحق او جنرل پرویز مشرف دَ خپل صدارت دَپاره ریفرنډم وُکړو۔ |
| سول نافرماني | ډاکټر خانانو په دور حکومت کښې کانګرس سول نافرماني وُکړه |

۳۔ دَصحیح جواب انتخاب وُکړئ۔

(الف) دَدغه تحریک په وجه مسلمانان دَخپلو یو اسلامة ملک څښتنان شول۔

(ب) دَ پیر مانکۀ شریف خپل نوم امین الحسنات وۀ۔

(ج) په فروری کال 1922ء کښې په دغه پاکه کورنۍ کښې وزیرپېده۔

(د) په کال 1945ء کښې قائداعظم محمد علی جناح خیبر پښتون خوا په دوره راغلو۔

۴۔ دَ کالم "الف" لفظونه دَ کالم "ب" دَمناسبو لفظونو سره په کالم "ج" کښې یوځائے کړئ۔

| کالم "الف" | کالم "ب" | کالم "ج" |
|---|---|---|
| اسلامة | مانکی شریف | اسلامي۔ ملک |
| تحریک | لیګ | تحریک۔ پاکستان |
| پیر | ملک | پیر۔ مانکی شریف |
| مسلم | خدمتګار | مسلم۔ لیګ |
| خدائي | پاکستان | خدائي خدمتګار |

## دَاسلام لوړوالے (نظم)

دَ شعرونوتشریح:

ورومبے بند: دغه مسلمانان داسې وُو چې دَ اسلام هر حکم یې منلو او دَ مسلمانانو سره امداد کونکۀ وُو دَ الله او دَ رسول ﷺ وفاداره وُو۔ او دَکونډو یتیمانو غم خوارۀ وۀ۔ هغوی دَ کفر او باطل نه ویزاره وُو۔ او دَحق په نشه مست وُو۔

دوئم بند: هغوی دَ دنیا نه دَ جهالت رسمونه ورک کړل۔ او دَکهانت دَدروغو دَپیشن ګوئي کونکو بنیادونه یې وران کړل۔ او دَ دین حکمونو ته یې سرونه ټیټ کړل۔ دَ خدائے په لاره کښې یې خپل کورونه خالي کړل۔ هر آفت ته به ډال کړی سینه ولاړ وُو۔ او صرف له یو خدائے نه به ویرېدل۔

دریم بند: هغوی دَهر علم او فن سره واقف وُو۔ او په هر کار کښې تر ټولو وړاندې وُو۔ هغوی کردار بې مثاله وُو۔ او په سیاحت کښې په ټوله دنیا کښې مشهور وُو۔ دَهغوی عمارتونه په هر ملک کښې موجود دۀ او نورو قومونو تر ښه تجارت زده کړه۔

څلورم بند: هغوی ټول ښار او وران ملکونه آباد کړل او دَ راحت او آرام سامانونه یې جوړ کړل هغوی دغرونو او صحر اګانو باغونه او چمنونه جوړ کړل۔ نو اوس چې دنیا دا کومه ترقۀ کړې ده نو دَ دې بنیاد هغوی کېښودلے وُو۔

## مشقۀ سوالونو جوابونه

۱۔ لنډ جوابونه ورکړئ۔

(الف) په دې نظم کښې دَ مسلمانانو کومې کارنامې بیان کړې شوې دی؟

جواب: په دې نظم کښې دَ مسلمانانو کارنامې بیان کړې شوې دی لکه دَمسلمانانو امداد کونکی۔ دَ الله او رسول ﷺ وفاداری۔ دَکفر او شرک مخالفت، د جهالت خلاف، د کهانت مخالف، دَ هر مصیبت مقابله کونکی د علمونو او فنونو سره آشنائي، سیاحت، عمارتونه، تجارت، دنیا آبادول دا ټول دَ تېرو مسلمانانو دَ عظمت نخښې نښانې دی۔

(ب) دَ جهالت او کهانت خپلو کښې څه تعلق دے؟

جواب: په کاهنانو، جادوګرانو او نجومیانو باندې صرف جاهلان، باور او یقین لری۔

(ج) دَ مسلمانانو نه کومو قومونو تجارت زده کړو؟

جواب: دَ مسلمانانونه ټولو قومونو او په خاصه توګه یورپی قومونو تجارت زده کړو۔

(ج) دَ مسلمانانو جوړ کړۀ شوۀ عمارتونه په دنیا کښې دَ څۀ علامه ده؟

جواب: دَ مسلمانانو جوړ کړۀ شوۀ عمارتونه دَ دې علامه ده چې په دغو علاقو کښې مسلمانانو حکومتونه کړی دی۔

(هـ) دَ مسلمانانو دَ ترقۍ څه وجه وه۔ او دَمسلمانانو زوال په څه وجه راغے؟

جواب: دَ مسلمانانو دَ ترقۍ وجه داوه چې دوی دَ علمونو او فنونو زده کونکی وُو۔ تجارت یې کؤلو او دَ دنیا آبادؤنکی وُو۔ او زوال وجه یې دا ده چې مسلمانان بې علمه او بې عمله شول۔

۲۔ لاندینۀ لفظونه دَ حروف تهجي په ترتیب سره وُلیکئ او ورسره یې معنې هم وُلیکئ۔

باطل۔ دروغ

بوزغلے۔ پنیری۔ تخم کرلونه پس واړۀ بوټۀ، چې بیا خورولے شۀ۔

حکم بردار۔ حکم منونکی۔

ذوالجلال۔ دَ لویۀ خاوند، الله تعالی

کهانت۔ پیشین ګوئی کونکی۔ جادوګر، سحر ګر

مئے۔ شراب یکتا۔ بې مثاله

Info Hub HRMS SIS SED

Scanned with CamScanner

۳۔ لاندینی مصرعې دَ نظم دَ الفاظو په مرسته پوره کړئ۔

(الف) دَ الله او دَ نبی ﷺ ټول وفادار وؤ۔

(ب) اؤ دَ کونډو یتیمانو ټول غم خوار وؤ۔

(ج) هر آفت ته به همېش وه سینه ډال۔

(د) وېره خوف یې کړه همېش له ذوالجلال۔

(هـ) بوزغلے یې دا هم دوی دے لګولے۔

۴۔ دَ لاندینۀ لفظونو هم قافیه لفظونه وُلیکئ۔

مددګار۔ خدمتګار۔ اوزګار۔ روزګار۔ کار

جهالت۔ قیمت۔ عزت۔ اجرت۔ نفرت

فن۔ چمن۔ ختن۔ تن۔ وطن

ساز۔ مجاز۔ آغاز۔ آواز۔ غماز

دنیا۔ سماء۔ عقبی۔ انتها۔ ابتداء

۵۔ لاندینۀ لفظونه په خپلو جملو کښې استعمال کړئ۔

| لفظونه | په جملو کښې استعمال |
|---|---|
| وفادار | ټېر مسلمانان ټول دَ الله اؤ رسول ﷺ وفادار وؤ۔ |
| باطل | مسلمان هغه څوک دے چه له باطل نه وېنراره وۀ۔ |
| سرشاره | څوک چې دَ حق دنیا کؤلو باندې سرشاره وی، دَ چا پروانۀ لرۀ۔ |
| ډال | څوک چې مصیبت ته ډال غورځوۀ چرې کامیابۀ نه مومۀ۔ |
| سیاحت | نن سبا سیاحت دَ آمدن یوه ذریعه ده۔ |
| سپرلے | زمونږ په وطن کښې دَ سپرلۀ موسم ښکلے موسم وۀ۔ |

۶۔ دَلاندینو لفظونو دَجمع واحد او دَ واحد جمع وُلیکئ۔

| واحد | جمع | واحد | جمع |
|---|---|---|---|
| یتیم | یتیمان | رسم | رسمونه |
| وطن | وطنونه | ښاره | ښارې |
| فن | فنون | کار | کارونه |
| سامان | سامانونه | باغ | باغونه |

## قواعد/ګرامر

فعل: فعل هغه کلمې ته وئیلې شۀ چې پکښې دَ څۀ کار دَ کېدو یا نۀ کېدو سره دَ زمانې تعلق وۀ۔

فاعل: فاعل هغه کلمه وۀ چې پکښې دَیو کارکونکۀ څرګندؤنه وۀ۔ لکه تلونکے۔ کونکے۔ لوستونکے۔

مفعول: هغه کلمې ته وائۀ چې وربانډې څه کار شوے وۀ۔ لکه لوستلے شوے۔ لیکلے شوے۔

فعل ماضۀ: دَ فعل هغه قسم چې دَ تېروخت سره یې تعلق وۀ۔ لکه هغه راغے۔ ته مالیدلے وے۔ زۀ ناست وؤم

اسم فاعل: داهغه اسم وۀ چې د مصدرنه وُتے وۀ اؤ د کار کونکۀ معنې ورکوۀ۔ لکه کتل نه کتونکے۔ تلل نه تلونکے یا تلونے۔ اؤ جوړؤل نه جوړؤنکے اؤ داسې نور

دَ مفعول اسم: دا هغه اسم وۀ چې د مصدرنه وُتے وی خو دَ مفعول کار کوۀ، لکه تلل نه تللے۔ لیکل نه لیکلے۔ اخستل نه اخستلے اؤ داسې نور

فعل معروف: دا هغه فعل دے چې فاعل یې معلوم وۀ لکه هغه لاړ۔ زۀ خاندم۔ هغوۀ ګورۀ۔ تاسو څملئ۔ په دې جملو کښې دَ فعل سره صرف په فاعل یو خانے کېدو جمله جوړېږۀ۔ اؤ پوره مطلب ورکوۀ۔

فعل مجهول: دا هغه فعل دے چې فاعل یې نه وۀ ښودلے شوے۔ صرف دَ فعل اؤ مفعول په یو ځائے کیدو جمله پوره شۀ۔ لکه خط وُلیکے شۀ۔ ډوډۍ خوړې شۀ۔ سترګې تورولې شۀ، په دې جملو کښې خط۔ ډوډۍ اؤ سترګې مفعول دې اؤ وُلیکلے شۀ۔ خوړې شۀ اؤ تورولې شۀ فعلونه دی۔

## دَ ماضی قسمونه

(الف) مطلقه ماضی: دا هغه فعل وۀ چې تېره زمانه کښې شوې وۀ۔ خو وُیونکۀ هغه کارپه خپله لیدلے یا کړے وۀ۔ یاورته داسې معلوم وۀ۔ بله دا چې دَ دې نه دا پته نۀ لګۀ چې دا کاراوس شوے دے۔ یا ډېر پخوا شوے دے۔ لکه امیل وُشلېدۀ۔ هغه پخلاشۀ۔ تاسو راغلئ۔ مونږ لاړو۔ زه کښېناستم اؤ داسې نور۔

(ب) قریبه ماضی: دا هغه فعل ته وائۀ چې نیزدو ماضۀ کښې شوې وۀ۔ لکه هغه راغلے دے۔ تاسو ډوډۍ خوړلې ده۔ زه سکول ته تلے یم۔ اؤ داسې نور۔

(ج) بعیده ماضی: دا هغه فعل ته وائۀ چې په لرې ماضۀ یا پخوازمانه کښې شوې وۀ۔ لکه مونږ تلۀ وؤ۔ هغوۀ راغلۀ وؤ۔ ته تړے شوے وې۔ اؤ داسې نور۔

(د) شکیه یا احتمالۀ ماضی: دا هغه فعل ته وائۀ چې په تېره شوې زمانه کښې یې دَ کېدو استعمال وۀ۔ یا پکښې دا شک وۀ چې شوې به وۀ او که نه به وۀ شوې لکه به راغلے وۀ تاسو به ډوډۍ خوړلې وۀ۔ ما به خط لیکلے وۀ۔ زۀ به یې وهلے یم۔ اؤ داسې نور۔

(هـ) تمنائۀ یا شرطیه ماضی: دا هغه فعل وی چې په تیره شوې زمانه کښې دَ څۀ کار دَ کېدلو یا نه کېدلو خواهش ترې څرګندېږۀ۔ لکه تاسو راغلۀ وئ۔ هغې خندلې شوې۔ مونږ ژړلې

شوې اؤ داسې نور۔

(و) استمراری یا ناتمامه ماضی: دا هغه تېره زمانه ده چې پکښې په تکرار سره دَ کېدو یا جارۃ پاتې کېدو څه ګنډؤنه کیږۃ لکه هغه ځغلېدۀ۔ تاسو راتلئ۔ مونږه خط لیکۀ۔ زۀ خندېدم اؤ داسې نور۔

## دَ اسم قسمونه

اسم: دَ څۀ څیز ځائے یا سړۃ نوم ته اسم وئیلۃ شی۔ دَ اسم دوه قسمونه دۃ۔

اسم معرفه: دا دَ خاص ځائے خاص سړۃ یا خاص څیز نوم ته وئیلی شی لکه محمد ﷺ۔ اباسین۔ دَ کوهاټ غر۔ پېښور۔ اؤ داسې نور

اسم نکره: اسم نکره دَ عامو ځایونو ۔ عامو سړو اؤ عامو څیزونوم نوم ته وئیلی شۃ ۔ لکه سړے۔ سیند۔ غر۔ ښار۔ اؤ داسې نور۔

### دَ معرفې داسم قسمونه:

(الف) اسم علم: دا هغه اسم دے چې څۀ خاص څیز ۔ سړے یا ځائے ترې مراد وۃ۔ لکه اباسین۔ احمد شاه ۔ کوهاټ۔ اؤ داسې نور۔ دَ اسم علم پینځه قسمونه دۃ۔ چې تفصیل یې څه په دارنګ دے۔

تخلص: دا هغه لنډ نوم دے چې شاعر یې په خپلو شعرونو کښې استعمالوۃ لکه اشرف خان هجّری کاظم خان شیدآ۔ علی محمد مخلص اؤ داسې نور۔

خطاب: دا دَ عزت نوم دے چې دَ حکومت له اړخه چاته ورکړے شۃ لکه شمس العلماء خان بهادر ، سر۔ خان صاحب اؤ داسې نور۔

لقب: هغه نوم چې دَ څۀ صفت په وجه یو سړی ته ورکړے شۃ، لکه پیر بابآ چې دَسید علی ترمذی لقب دے۔ یا لوئے خوان چې دَ سید عبدالقادر جیلانی لقب دے۔

عرف: دا هغه نوم ته وائۃ چې سړے پرې دَ خپل نوم نه علاوه په خلقو کښې مشهور وۃ۔ لکه تورے۔ ګلے۔ شینو اؤ داسې نور۔

کنیت: دا هغه نوم چې مور اؤ پلار دَزوئ، لوُر، یا زوئے لورُ، دَ مور اؤ پلار په نومونو یا دولې شی لکه داسلم پلار۔ دَ کل مور۔ دَ مرجان مور۔ یا دَ شمشاد زوئے۔ دَ کنیت زیات رواج په عربو کښې دے۔ لکه ابو القاسم، ابوبکر، ابن خلدون اؤ داسې نور۔

(ب) دَ ضمیر اسم: دَضمیر اسم هغه اسم ته وائی چې دَ بل اسم دَپاره استعمال شوے وۃ لکه یوسف راغے۔ هغه ډوډۍ وُخوړه، په دۃ جمله کښې "هغه" کلمه دیوسف دپاره راغلې ده۔ دې ته دَ ضمیر اسم وائۃ۔ دغه شان هغه ، هغوۃ، ته، تاسو ، دې، دوۃ زۀ او مونږ وغیره دَ ضمیر اسمونه دۃ۔

(ج) دَ اشارې اسم: دَ اشارې اسم هغه کلمه ده۔ چې بل ته پرې اشاره کیږۃ لکه دا کال۔ دغه کتاب۔ هغه کور اؤ داسې نور۔

(د) دَ موصول اسم : دا هغه اسم ته وائۃ چې تر کومې ورسره بله خبره وُنۀ وئیلۃ شۃ۔ نو مطلب یې نه پوره کیږۃ لکه څوک چې خاندۃ، هغه به ژاړی ، په دې جمله کښې "څوک چې" اسم موصول دے۔ دغه شان "کوم چې"۔ "چاچې" "څۀ چې" "هر څوک چې" "هر چاچې" "هر څۀ چې" او داسې نور دَ موصول اسمونه دۃ۔

(هـ) دَ معاوضې اسم: دا هغه ته وائۃ چې د څۀ کار کؤلو اجرت یا مزدورۃ ترې څر ګندیږۃ۔ لکه دَ منشی توب دَکار اجرت منشانه ، دَ اوبو دَ انتظام اجرت آبیانه، دغه شان محنتانه، فصلانه، اؤ داسې نور۔

(و) دَ حالت اسم: دا هغه اسم ته وائۃ چې دَ چا فاعل یا مفعول حالت ښکاره کوۃ۔ لکه "یوسف په خندا راغے" دې جمله کښې "په خندا" دَ یوسف ښکاره کوۃ۔

(ز) دَ استفهام اسم: دا هغه اسم وۃ چې دَ څه څیز یا کار معلومؤلو دَپاره استعمالیږۃ لکه څوک، څۀ، چا، کوم، کله ، ولې اؤ داسې نور۔

(ح) دَ مصدر اسم: دا هغه اسم وۃ چې دَ څه کار دکېدلو یانۀ کېدلو څرګندؤنه ترې کیږۃ خو دَ زمانې تعلق ورسره نۀ وۃ۔ لکه تلل، کتل، لیدل، اورېدل، خوړل اؤ داسې نور۔

(ط) دَ حاصل مصدر اسم: دا هغه اسم ته وائۃ چې دَ مصدر نه وتے وۃ لکه دَ تلل نه تګ، اورېدل نه اورېدنه، کتل نه کتنه، سورېدل نه سورلۃ، اؤ داسې نور۔

(ۃ) دَ صفت اسم: دا هغه اسم ته وائۃ چې دَ څه څیز خصوصیت ، کیفیت، یا شمېره ترې معلومیږۃ۔ لکه پیاوړے زلمے ، ښکلې ښځه، تور مار، سپین سر، څلور یاران، په دې مثالونو کښې پیاوړے ، ښکلې، تور،سپین، اؤ څلور دَ نورو اسمونو لکه زلمۃ، ښځې، مار، سر اؤ یارانو څه خصوصیت ،کیفیت یا شمېره ښائی په دې کښې وړومبی اسم ته صفت اؤ دویئم ته موصوف وائی۔

تفصیلة صفت: دا هغه صفت وائی چې دَ یو موصوف څه خصوصیت یا کیفیت په مقابله کښې دَ بل یا ګڼو موصوفاتو دَدغه شان خصوصیات یا کیفیت په مقابله کښې زیات وُښودلې شی۔ لکه اکمل دَ اجمل زیات ګرندے

Scanned with CamScanner

دے۔ دَتفصیلة صفت درې درجې دی (۱)تفصیل نفسی (۲) تفصیل بعض (۳) تفصیل کل

(۱) تفصیل نفسی: دا دَصفت هغه درجه ده چې دَ یو څیز صفت خوښودلې شوې وی ولې دَ بل صفت سره یې مقابله نه وی لکه ښکلے گل، سُور قمیص، ښکلې پېغله اؤ داسې نور۔

(۲) تفصیل بعض: په دې درجه کښې دَیو موصوف مقابله دَ بل موصوف سره وی لکه پروین دَ شمیم نه کشره ده۔ له پردې باټه خپله برجو ښه ده۔

(۳) تفصیل کل: په دې درجه کښې دَیو موصوف مقابله دَ ټولو کسانو یا څیزونو سره کؤلې شی لکه: پښتون قام له ټولو قامونو مړنے دے۔ هغه له هر چا خوشحاله دے۔ دا گل له واړو گلونونه تازه دے۔ ایشیاء له ګردو براعظمونو نه لوئے براعظم دے۔

(ک) اسمِ کنایه: کله کله ویونکے دَ خاص سړی یا څیز نوم نه اخلی یا صحیح شمېره اؤ مقدار نهٔ ښائی نو دَ دې دَپاره یو مبهم غوندې ټکے استعمال کړی۔ لکه فلانے، اغه دغه، دومره، څومره، هومره اؤ داسې نور۔

## مرکبات ناقص

دا هغه مرکب ته وائة چې څو کلمې په صحیح طریقه یو ځائے شوې وة، خو پوره مطلب نه ورکوة۔

مرکب اضافی: دوه کلمې په داسې طریقه یو ځائے کېدل چې دَ یوې لـه وجې نـه پـه بـلـه کښې څـه خاص والے یا څرګندوالے یا څهٔ نیمګړے شان تعلق پېدا شة، دې ته اضافت وائی۔ کومه کلمه چې خاص والے څرګندوالے، یا تعلق پیدا کوی هغې ته مضاف الیه اؤ په کومه کښې چې یې پـیـدا کـوة هـغـه ته مضاف وائة۔ لکه دَ احمد کتاب، دَ پروین قلم، په دې کښې احمد اؤ پروین مضاف الیه دی۔ کتاب اؤ قلم مضاف او "د" داضافت توری دے۔

مرکب توصیفی: دوه اسمونه په داسې طریقه یو ځاکېدل چې یودَبل څهٔ حالت یا کیفیت څرګندوة کوم اسم چې حالت بیانوة هغه ته صفت اؤ دَ چاچې صفت یا حالت بیانوة هغې ته موصوف وائی۔ لکه قابل هلک، سپین څادر، په دې کښې قابل اؤ سپین صفت اؤ هلک اؤ څادر موصوف دی۔

مرکب عطفی: کله چې دوه کلمې دَ حروف عطف په ذریعه یو ځائے شة اؤ دواړه بیا دَ کلام حصه شة۔ دې ته مرکب عطفة وائی۔ لکه قلم اؤ کتاب، تور اؤ سپین اؤ څنې

نور۔

مرکب جاری: دَ کومې کلمې سره چې دَ جار توری راشة نو دغه مرکب ته جاری مرکب وائی۔ لکه په سکول کښې، تر پېښوره، له پرونه راسې اؤ داسې نور

دَ مرکب اضافی دَ فارسی ترکیب: حکومت پاکستان، تحریک پاکستان، رسولِ خداﷺ، دا پورتنی مثالونه دَمرکب اضافی دی۔ خو دا دَ فارسی دَ ترکیب مطابق دی۔ د پښتو اؤ دَفارسی په مرکب اضافی کښې فرق دادے چې پښتو کښې دَپاکستان حکومت، دَپاکستان تحریک اؤ دَ خدائے رسولﷺ په پښتو کښې دَ دوه اسمونو تر منځه تعلق څرګندؤلو دَپاره "د" استعمالولے شی۔ اؤ په فارسی کښې زېر یا همزه دغه تعلق څرګندوی۔ په پښتو کښې مضاف الیه وړومبے راځی اؤ مضاف وروستو۔ په فارسی کښې مضاف وړومبے راځی اؤ مضاف الیه وروستو راځی۔ لکه دَ خدائے رسولﷺ پښتو ترکیب دے اؤ فارسة ترکیب یې رسول خدادے۔

حرف تشبیه: تشبیه دې ته وائی چې یو څیز دَ بل غوندې ظاهر کړے شة، کله چې یو څیز دَ بل پشان وګڼلې شی نو پـکښې څـه کـډ یا مشترکـه خصوصیت ضروروی دا خصوصیت ظاهری هم کېدے شی اؤ باطنی هم۔ مثلاً کله چې دا وؤئېلې شی "رامداد دَ زمری پشان بهادر دے" یا صنوبر دَ چینار په شان دنګ دے" په وړومبی جمله کښې دَ رامداد اؤ زمری په شکل کښې څهٔ یو شان والے نشته۔ خو دَ بهادری دَ باطنة صفت په وجه دواړه یو شان ګڼلی شوی دی۔ په دوئیمه جمله کښې په صنوبر او چینار کښې ظاهری خصوصیت ته کتلة شوی دی۔ یعنی دنګ والے، لوړ والے یا اوچت والے چې په دواړو کښې دغه خوبی مشترکه ده۔ دَ تشبیه دَ پاره مختلف لفظونه استعمالؤلې شة لکه " غوندې " " په شان" "لکه" " هسې " " په څېر" اؤ داسې نور۔ لکه نن نرم لکه داوړپه شان ګرم دے۔ مخ یې لکه دَ ګل تازه دے۔ ښائست یې دَ سپوږمی هسې دے۔ دَلومبړ غوندې چالاک دے۔

دَربط حروف: حرف هغه کلمه ده چې نه خو څهٔ کار کوی اؤ نه دَ څهٔ څیز نوم وی۔ خو اسمونه اؤ فعلونه یو ځائے کوی چې پوره مطلب اؤ عنې یې څرګنده شی۔ دَ حرفونو ګڼې قسمونه دة چې یو پکښې حروف ربط توری دی۔ تفصیل یې دا دے۔

اؤ: دوه کلمې یادوه جملې یو ځائے کوی۔ لکه قلم اؤ کتاب،

کل او ازغے، ابي مره شوه او تبه يې وُشليده.

کهٔ: دا په هغه جملو کښې استعماليږي چې يوه جمله دَ بلې شرط پوره کوي "لکه کهٔ راغلې نو ډوډۍ به وُخورې" "که سکول ته لاړې نو سبق به ووائې" او داسې نور

چې: دا په هغه موقع استعماليږة چې دَ شرطَ پوره کېدو پوره طمع وة. له "چې ته راشې نو خپل امانت به يوسې" "چې دارو وُخورې نو روغ به شې" او داسې نور.

ولې: دا په هغه ځائے کښې راځة چې ګڼو څيزونو يا افرادو ته حکم شوے وة او بيا ترې څهٔ وولېستې شة "لکه تاسو ټول راشئ ولې حامد دې نه راځة" "مونږه ډوډۍ وُخوره ولې ځانګې وُنهٔ خوره" او داسې نور.

ځکه چې: دا داسې جملې يو ځائے کوة چې پهيوه جمله کښې دَ بلې سبب بيان شوے وة، لکه "هغه رانهٔ غلو ځکه چې باران ورېدهٔ" او داسې نور.

نو: دا حرف په هغه جملو کښې راځة چې دَيوې جملې شک په بله جمله کښې يقين کښې بدلَ شي لکه "چې خبر يې راشي نوزه به درشم" او داسې نور.

## جمله مرکب تام

کله چې يو څو کلمې په داسې طريقه يو ځائے شة چې اورېدونکے ترې پوره مطلب واخلة. نو دې ته مرکب تام تا جمله وائة. لکه شاندار لاړهٔ. پامير ناجوړه دے. په يو جمله کښې کم نه کم دوه کلمې وي. ځنې وخت يوه کله هم وي. خو دا په حقيقت کښې يوه نهٔ وي. لکه پاڅه، کښېنه، دا په حقيقت کښې تهٔ پاڅه، ته کښېنه دهٔ، په پورته جملو کښې "شاندار"، "پامير" او "ته" ته مسنداليه وائة او "لاړهٔ" "ناجوړه" "پاڅه" "کښېنه" ته مسند وائة.

مبتداء او خبر: په کومه کلمه کښې چې دواړه کلمې اسمونه وة نو په دې کښې اوله کلمه "مبتداء" او دوئمه "خبر" ګڼلی شي. لکه "پامير ناجوړه دے" په دې جمله کښې "پامير" مبداء، ناجوړه خبر او "دے" فعل ناقص دے.

ساده اسميه جمله: دا هغه جمله ده چې دواړه کلمې يې اسمونه وة. لکه مامونۍ قابله ده. په دې جمله کښې "مامونۍ" او "قابله" دواړه اسمونه دي.

ساده فعليه جمله: دا هغه جمله ده چې يو کلمه يې اسم او دوئمه فعل وي. دغه اسم ته فاعل هم وئيلې شي. لکه "عمر لاړو" په دې جمله کښې عمر اسم دے او لاړو فعل دے.

## سابقې

دَ نورو ژبو په شان په پښتو کښې هم دَ يو لفظ وړاندې يا وروستو ديوې کلمې (معنې لرونکي لفظ) په تړلو نوي الفاظ جوړيږي. تاسو په لاندينو لفظونو غور وُکړئ

اثر ـ ـ ـ باأثر ـ ـ ـ خبر ـ ـ ـ بې خبر ـ ـ خيال ـ ـ هم خيال

په دغو کښې دَ اصل لفظ نه آکاهو "با" "بې" او "هم" لګولو سره نوي الفاظ جوړ کړې شوي دي.

دا لفظونه (با- بې او هم) سابقې بللے شي.

## لاحقې

په لاندې ورکړې شوي لفظونو غور وُکړئ.

دان، تاريخ دان، سائنس دان، سياست دان

ناک، خطرناک، هيبت ناک، درد ناک

خور، زياتة خور، سرة خور، سبزة خور

تاسو وُليدل چې دَ څهٔ لفظونو په آخر کښې يو بل لفظ يو ځائے کړے شوے دے. او مرکب لفظونه ترې جوړ شوي دي او زياتے يا اضافه لاحقه بللے شي. لکه ګل دان کښې دان لاحقه ده. ګويا دَلاحقې نه مراد داسې حرف ياد حرفونو مجموعه ده. چې دَڅه معنې لرونکي لفظ په آخر کښې لګولې شي. او نوے لفظ ترې جوړولے شي.

## محاوره

په لاندينو محاورو غور وُکړئ.

غم خوړل: زړهٔ کېدل، شش وپنج کښې پرېوتل، پښې وهستل يا پښې سپکول. په دې محاورو دَ سوچ کولو نه پس دوه خبرې واضحه کيږي.

(الف) هر محاورو په دوؤ يادَ دوه نه په زياتو الفاظو مشتمله دي.

(ب) په محاورو کښې الفاظ په حقيقي معنو کښې نهٔ شي استعمالولے بلکې نورې معنې ترې اخستې شي. چې مونږ ورته مجازة معنې وايو. که چرې حقيقي معنې ترې مراد واخلو نو بيا خو دَدغو محاورو مطلب څه دارنګ وة.

غم خوړل: دَ غم خوړلو مطلب به دَاوي چې ګنې غم هم څهٔ دَخوراک څيز دے. چې خوړلې شي. خو غم څهٔ ظاهرې وجود نه لري. نو دَ غم خوړلو مطلب به دا وي چې يو بنده غم کوي او فکر ورسره وي.

زړهٔ کېدل: يو کار ته خواهش لرل يا يو څيز حاصلول غوښتل.

شش وپنج کښې پرېوتل: شش شپږو ته او پنج پينځو ته وائي. مراد ترې حېرانېدل ـ حېرانتيا، تعجب او دَ حېرت

اظهار دے۔

پښې وېښتل: مطلب يې له يو ځايه تلل۔ ډېر ته کېدل او کوښه کېدل دي۔ اوس نو څرګنده داشوه چې محاوره هغه دَ دوه ياد دوه نه دَزياتو الفاظو مجموعه وه چې هغه دَ حقيقة معنو په ځائے په مجازي معنو کښې استعمالولے شي۔ او دا په ليک او بيان کښې ښکلا پيدا کوه۔

❁❁❁❁

## درخواستونه

### دَيوې ورځې دَ چُټې دَپاره درخواست

په خدمت کښې دَ جناب پرنسپل صاحب دَ ګورنمنټ مډل سکول نوښار

جناب عالی!

ډېر په ادب سره عرض کوم چې په کور کښې مې يو ډېر ضروری کار پېښ شوے دے۔ چې دَ هغې په وجه سکول ته حاظرېدے نهٔ شم۔ مهربانی وکړئ صرف دَ نن ورځی دَپاره چټی راکړئ۔

ډېره ډېره مننه

ليک نېټه:۔ 4نومبر کال 2012ء

عرض کونکے

راشد مقصر خان دَ اتم جماعت

ګورنمنټ مډل سکول نوښار

❁❁❁❁

### دَ فيس معافی درخواست

په خدمت کښې دَ جناب پرنسپل صاحب ګورنمنټ هائير سېکندرې سکول خوېشګی پايان۔

جناب عالی!

ډېر په ادب سره عرض کوم چې زما دَ تعليم حاصلولو سره ډېره مينه ده۔ خو دَ مور په پلار مالۃ حالت مې دَدې جوګه نه دے۔ چې زما تعليمی خرڅونه برداشت کړے شي۔ ځکه نو تاسو مهربانی اوکړئ او ماته ټول فنډونه معاف کړئ۔

ډېره ډيره مننه

غرض کونکے

ستاسو فرمان بردار شاګرد وقاص محمد ترين

دَاتم جماعت ګورنمنټ هائير سېکندرة سکول خوېشګی پايان

❁❁❁❁

### دَ محلې دَ صفائی دَپاره درخواست

په خدمت کښې دَ محترم ناظم صاحب دَ يونين کونسل درشکی ضلع نوښار۔

جناب عالی!

ډېر په ادب سره عرض کوؤم چې زمونږه محله چې په نوې محله سره مشهوره ده ،هلته د صفائی څه خاص انتظام نشته۔ نالی بندې دی۔ دَ سخاوبو ډنډونه ولاړ دی او د بيماريو دَ خورېدو خطره ده۔ مهربانی وکړئ زمونږ د محلې د نالېو دَ صفا کؤلو او پکښې د جراثيم کشو دوايانو سپرے اوکړئ۔

ډېره ډېره مننه

عرض کونکے

دَنوې محلې ټول اوسېدونکۀ په واسطه دَ کونسلر شهزاد عالم دَ يونين کونسل رشکئ

❁❁❁❁

### دَ سرتيفيکيټ اخستو دَپاره درخواست

په خدمت کښې دَجناب هېډ ماسټر صاحب دَ ګورنمنټ هائی سکول بابا جی کلی۔

جناب عالی!

ډېر په ادب سره عرض کوؤم چې زما دَپلار بدلی له دې ځايه دير ته شوې ده۔ او مونږ به کده هلته روان يو. ځکه نو زه تاسو ته خواست کوم چې مهربانی وُکړئ ماله سرتيفيکيټ راکړئ چې زه پرې خپله تعليمی سلسله هلته جاری وُساتم۔

ډېره ډېره مننه

ليک نېټه:6نومبر کال2012ء

عرض کونکے

ستاسو تابعدار شاګرد معاذ محمد ترين۔ اتم جماعت

ګورنمنت هائة سکول باباجی کلے

❁❁❁❁

### دَکرکټ دَ ميچ کؤلو دَپاره پرنسپل صاحب ته دَ اجازت دَپاره درخواست

په خدمت کښې دَپرنسپل صاحب ګورنمنټ مډل سکول سعادت آباد

جناب عالی!

ډېر په ادب سره عرض کؤم چې زمونږ دَ سکول دَ کرکټ دَلوبغاړو ټيم دَ احمد آباد دَدغه ميچ کؤلو دَپاره اجازت راکړئ۔

ډېره ډېره مننه

غرض کونکے

Info Hub HRMS STS SED

Scanned with CamScanner

ستاسو فرمان بردار شاګرد اجمل خان د اتم جماعت
ګورنمنټ مډل سکول سعادت آباد

❁❁❁❁

## خطونه

### پلارته خط

له بره خوېشکی څخه
په نېټه 6نومبر 2012ء

خوږه بابا جانه!

اسلام علیکم۔ عرض دا دے چې زه روغ جوړیم او اُمید دے چې تاسو به هم په خیر سره یې۔ تاسو به په دې لوستلو خوشحاله شئ چې ما اووم جماعت په ډیر ښه پوزیشن کښې پاس کړے دے۔ چې دا ستاسو دَ دُعا ګانو نتیجه ده۔

اوس به زۀ په اتم جماعت کښې داخله اخلم۔ ما ته به دَ کاپیو او کتابونو او نورو ضرورۃ شیزونو دَپاره دَپیسو ضرورت وۀ۔ څکه نو مهربانۀ وکړئ او ما ته زر (1000) روپۍ دَ منی آرډر په ذریعه راولیږئ۔ ټولو ته زماله اړخه سلامونه۔

ستاسو فرمان برداره زوئے
محمد شاهد خان

❁❁❁❁

### خپل دوستانه دَ ورور دَ وادۀ دَ بلنې خط

له نوښار نه
نېټه:8نومبر کال 2012ء

خوږه او ګرانه عبدالرحمانۀ!

السلام علیکم۔ تاسو به یقیناً چې په دې خوشحاله شئ چې زما دَ مشر ورور وادۀ دې میاشتې په شلم (20) تاریخ مقرر کړے شوے دے۔ تاسو ته عرض کوم چې په دغه وادۀ کښې ستاسو شرکت کؤل به زمونږه خوشحالي یو په دوه کړه۔ اُمید دے چې تاسو به ضرور تشریف راوړئ۔ والسلام۔

ستاسو مخلص دوست
محمد منیب خان

❁❁❁❁

### مورته خط

له چارسدې نه
نېټه:7نومبر کال2012ء

خوږې مورې!

السلام علیکم۔ عرض دادے چې زه بالکل روغ جوړیم۔ او اُمید دے چې ستاسو صحت به هم ښۀ وۀ۔ ګرانې مورې! په خط لیکلو کښې زانه تا خبر اوشو چې د دې دپاره معافي غواړم۔ اصل خبره دا ده چې دلته اوزګار پېدل ګران وي۔ سکول ته تلل دي او بیا چې د سکول نه راشم، نو دومره کارونه راکړے وي چې هلته تر ماسخوتنه پورې تر سره شي۔ نن لږ کار کم وؤ۔ نو وخت ملاؤ شو۔ او خط مې درته ولیکلو۔ دُعا راته کوئ چې الله پاک مې کامیاب کړی ورونو او خوئندته مې سلامونه۔ والسلام

ستاسو دَ دعا محتاجه ستاسو زوئے
محمد حسیب خان

❁❁❁❁

### خپلې ملګرې/سهیلۍ ته په پاس کېدو دَ مبارکۍ خط

له پېښور نه
نېټه 6نومبر 2012ء

زړه ته راتېږې ملګرې! یاسمن

السلام علیکم۔ اُمید دې چې روغه جوړه به یې

پرون خبر شوم چې په امتحان کښې پاس شوې یې او په سکول کښې دې ورومبے پوزیشن هم تر لاسه کړے دے۔ ډیره خوشحاله شوم۔ او په دغه کامیابۍ درته مبارکي درکوم۔ الله دې وکړي چې هم دغه شان کامیابۍ دې ژوند په هر پړاؤ ملګرے شي۔ والسلام

ستاسهیلۍ (ګل مکۍ)

❁❁❁❁

## قیصې

### (۱) انګور تراوۀ دۀ

یوه لومبړه چې ډیره وږې وه۔ دَ خوراک په لټون یو باغ ته ورغله۔ هغې ولیدل چې دَانګورو په څېلو کښې د انګور غنچکونه راځوړندي۔ په څله کښې یې ورته اوبۀ راغلې، او په غنچکونو پسې یې ټوپونه وهل شروع کړل۔ خو غنچکونه دومره اوچت وو چې لومبړه وررسیدې نۀ شوه۔ لومبړه چې په ټوپونو وهلو ستړې شوه۔ او دَانګورو غنچکونو ونه رسېدې شوه۔ نو پوزه یې تروه کړه او دَ ځان سره یې اووئیل چې انګور تراوۀ دۀ۔ نیتجه: چې په لاس نه درځۀ نو انګور تراوۀ وۀ۔

❁❁❁❁

### (۲) دَ ایمانداری بدله

په یو کلي کښې یو غریب لرګۀ وهونکے اوسېدو۔ یوه ورځ هغه دَ سیند په غاړه دَ یوې لرګۀ وهل چې تبر ترنه سیند ته پرېوتو۔ هغه ډیر خفه او پرېشانه

Info Hub HRMS SIS SED

Scanned with CamScanner

ولاړوُ۔ چې دَ اوبو ښاپیرۍ دَ سیند نه راښکاره شوه۔ اوُ ده ته یې اووے چې ولې خفه یې؟ لرګۍ وهونکۍ ورته اووے چې تبر رانه سیند ته پرېوتو دَ اوبو ښاپېرۍ په سیند کښې غوټه کړهٔ اوُ دَ سرو زرویو تبر یې راښکاره کړو۔ خو لرګۍ وهونکۍ اووے چې دا زما تبر نه دے۔ ښاپېرۍ غوټه کړه اوُ دَ سپینو زرو تبر یې راښکاره کړو۔ خو لرګۍ وهونکی اووے چې دا هم زما تبر دے۔ زما تبر داوسپنې دے۔ دا ځل ښاپېرۍ بیا غوپه اووهله اوُ دَ لرګۍ وهونکۍ تبر یې راووېستو لرګۍ وهونکۍ اووے چې هم دا زما تبر دے۔ دَ اوبو ښاپېرۍ دَ دهٔ په ایمانداری ډېره خوشحاله شوه۔ اوُ دَ سرو زرو اوُ سپینو زرو تبرونه یې هم لرګۍ وهونکۍ له ورکړل۔ نتیجه: دَ رښتاؤبدله الله ورکوۀ۔ ایماندارۀ غوره پالیسی ده۔

❖❖❖❖

## (۳) دَښېګړې بدله ښېګړه

په یوه وُنه کښې یوې کورکوړې جاله جوړه کړې وه۔ دَدغه وُنې لاندې مېږې هم وؤ۔ یوه ورځ یو مېږے دَ سیند په غاړه تلو چې سیند ته پرېوتو۔ کورکوړې چې مېږے په مصیبت کښې وُلیدو۔ نو دَ وُنې نه یې یوه پاڼه راپرېکړه اوُ دَ مېږۀ مخے ته یې اوغورزؤله۔ مېږے په پاڼه پاس وراوختو اوُ په قلار قلار غاړې له راغلو۔ اوُ روغ جوړ تر خپله ځایه راورسېدو۔ ډېرې ورځې نه وې تېرې چې یوه ورځ یو ښکارۀ په دغه لورراغلو هغه ټوپک راپورته کړو، کور کوړه یې ویشتله اوُ هغه بې خیاله ناسته وه۔ چې دَ مېږۀ ورته فکر شو۔ هغه په تلوار ورغلو اوُ دَ ډز کؤلو په وخت یې دَ ښکارۀ په پښه چک اولګؤلو داسې دَ ښکارې ګذار خطا لاړو۔ کور کوړه پوهه شوه او له هغه ځایه والوته۔ نتیجه: دښېګړې بدله ښېګړه وۀ۔

❖❖❖❖

## (۴) دَ لالچ انجام

وائي چې دَ یوې بوډۍ سره یوه چرګه وه۔ چې هغې به هره ورځ دَ سرزور هګۍ اچؤله اوُ دَ بوډۍ پرې ګوذاره روانه وه۔ یوه ورځ دغه بوډۍ سوچ اوکړو۔ چې داهره ورځ هګۍ ته انتظار ګران دۀ۔ اوُ زره کښې یې اووې چې دا چرګه حلاله کړم، نوټولې هګۍ به په یو ځل حاصلې کړم اوُ خپله نیستۀ به پرې غوځه کړم۔ نو هغه چرګه یې حلاله کړه اوُ بوډۍ هېڅ هم حاصل نه کړل۔ رښتیا دۀ چې دَ لالچ انجام خراب وۀ۔

❖❖❖❖

# مضمونونه

## (۱) رحمان بابا

په دنیا کښې ډېر ښهٔ ښهٔ شاعران تېر شوي دي دَهرې ژبې خپل شاعران وۀ۔ چې دَ هغه ژبې ویونکۀ کوۀ۔ په پښتو ژبه کښې هم ډېر ښهٔ ښهٔ شاعران تېر شوي دي اوُ دَ هر یو خپل مقام دے۔ خو په دغو ټولو کښې رحمان بابا ډېر زیات مشهور دے۔ اوُ ټول پښتانهٔ په هغه منن دۀ۔ اوُ هغه په کلام باندې فخر اوُ ویاړ کوۀ۔ دَ رحمان بابا دَ ژوند حالات پوره معلوم نه دۀ۔ خو دومره معلومه ده چې پېښور سره نیزدو په بهادر کلۀ کښې پیدا شوے وؤ۔ په قام موموند وؤ۔ دَ وخت ټول علوم یې حاصل کړي وؤ۔ اوُ د الله په مینه مست وؤ۔ دومره معلومه ده چې د 1123هـ پورې یقیني ژوندے وؤ۔ رحمان بابا دَ نصحیت نه ډک شعرونه وئیلۀ دۀ۔ اوُ مزاریې دَ هزار خوانی په هدیره کښې دے۔ یو مثالۀ روضه یې ده۔عقیدت مندان اوُ شاعران یې مزار له راځۀ۔ اوُ دلته شاعرې هم کوۀ اوُ دَ دوۀ ته بخښنې اوُ درجې دَلوړوالۀ دَپاره دُعاګانۀ کوۀ۔

دَرحمان بابا یو څو شعرونه:۔

کوهے مهٔ کنه دَ بل سړې په لاره کښې
چرې ستا به دَ کوهې په غاړه لارشۀ
واړه دَ خپل ځان په نظر ګوره که دانایۀ
اے عبدالرحمانه! جهان ټول عبدالرحمان دے
انسانیت څه په دولت نه دے رحمانه
بُت که جوړ شو دَ سروزورو انسان نه شو
ښه ده ښه ده دا دنیا
چې تو ښه ده دَ عقبا
هغه ناوې چې په خپله ښائسته نه وۀ
څوک به یې څه کاندې ښائست دَ مور اوُ نیا

## (۲) دَ ورزش فائدې

بنده چې روغ جوړ اوُ صحت مند نه وۀ نو ژوند ورته یو عذاب شۀ۔ اوُ چې څنګه دَ ژوندۀ اوسېدو دَپاره خوراک ضرورۀ دے۔ دغه شان دروغ جوړاوسېدو دَپاره سېل اوُ ورزش هم ضرورۀ دے۔ دَ ورزش کؤلو په وجه وجود ته ترقۀ حاصلېږۀ۔ اندامونه مضبوط شۀ۔ انسان چست شۀ۔ اوُ کار روزګار ته یې طبع کیږۀ۔ غرض دا چې دَ انسانۀ صحت برقراره ساتلو دَپاره ورزش یو غوره عمل دے۔

ورزش نه علاوه هېڅ دوائۀ نشته چې غوره وۀ۔
دا هغه نسخه ده چې کم خرڅه وۀ بهتر وۀ

Info Hub HRMS SIS SED

Scanned with CamScanner

انسانۀ وجود دَ یو مشین پشان دے۔ څنگه چې دَ مشین دَپاره ضرورۃ ده چې دَ هغه ټولې پرزې دې په صحیح حالت کښې وی۔ اؤ مناسب خوراک یعنی تېل وغیره ورته حاصل وی۔ اؤ دَ هغه دې صفائۀ هم کؤلے شۀ۔ دغه شان انسانۀ وجود هم دے۔ که چرې ټول اندامونه یې روغ جوړ وی۔ اؤ صفائۀ یې کؤلے شۀ نو دَ وجود توانائۀ به په ځائے وی۔ اؤ دَ وجود دروغ جوړ ساتلو دَپاره ضرورۃ ځیز ورزش دے۔ په ورزش کؤلو په وجود خؤله راشۀ چې ورسره دَ وجود فاسدې مادې وؤځی۔ وینه صفا شۀ۔

دَ ورزش کونکو وجود مضبوط وۀ۔ ښائسته وۀ۔ رگونه اؤ پلې یې مضبوطې وۀ۔ وجود یې چست وۀ۔ په وجود کښې یې وینه په ښه توګه دوره کوۀ۔ روټی یې هضمیږی۔ خوب ورله ښه راځی انسان هر وخت خوشحاله وۀ مازغۀ یې ښۀ کار کوۀ۔ دَ ناجوړتیانه په امان وۀ۔ اؤ دَ دنیا دَ نعمتونو په خوند پوهیږۀ۔

دَ ورزش کؤلو دَپاره دَ سحر یا ماښام وخت غوره دے۔ میدان ، تازه هو اؤ اعتدال دَ ورزش دَ پاره ضرورۃ توکۀ دۀ۔ که چرې ورزش دَ حد نه سوا شۀ نو هم نقصان دے۔ اؤ دغه شان دَ ورزش باقاعده او هره ورځ کؤل پکار دۀ۔ ناغه پکښې نه ده پکار۔ اؤ ورزش دَ وجود دَزغملو مطابق پکار دے۔ دَ هر عمر مطابق بېل بېل ورزش وۀ دَدغې هم خیال ساتل پکار دۀ۔

❁❁❁❁

## (۳) دَوخت پابندي

دَ وخت دَ پاندی مطلب دا دے چې هر کار په ټاکلۀ وخت سره کړے شۀ۔ کوم خلق چې دَ وخت په قدر پوهیږۀ۔ هغوۀ یوه لحظه هم نه ضائع کوۀ۔ په تېر شوۀ وخت پسې آرمان کؤل اؤ دَ موجوده وخت نه فائده نه پورته کؤل لویه نادانۀ ده۔

وخت یو بېش بها دولت دے۔ دَ دنیا مال دولت خو په محنت حاصلېدے شۀ۔ په دارو درملو خراب صحت رُغېدے شۀ۔ په کاروبار کښې دَ نقصان اؤ تاوان راسرکؤل هم ممکن دۀ۔ خو کوم وخت چې یو ځل تېر شو۔ نو هغه داسې دے لکه چې دَ لیندې نه وتلے غشے وۀ، چې بیرته نه راځی۔ رحمان بابا وائۀ۔

ترورځ تېرې اوبه بیرته نه جاروُځۀ
نه جاروځی تېر ساعت په بئیر ته بیا

دَ وخت پابندۀ ډېر ښه اصول دۀ۔ په دغه اصولو چې چا عمل کړے دے۔ نو دَ ژوند په هر ډگر کښې یې کامیابۀ موندلے ده۔ که چرې مونږه فکر کړو۔ نو دا ټول کائنات مونږ دَ ته وخت دَ پابندې سبق راکوۀ۔ ورځ اؤ شپه په مقرر وخت راځۀ۔ موسمونه په مقرره وخت بدلون مومۀ۔ سپوږمۍ په خپل وخت وړه کیږۀ اؤ پوره کیږۀ۔ نمر په خپل مقرر وخت راخیژۀ اؤ غورزیږۀ۔ دَ فطرت دغو عناصر کښې هېڅ بې قاعدگی نشته۔

اسلام هم دوخت پابندې ضرورۃ گرځولۀ ده۔ په وخت مونځونه کؤل په وخت روژۀ نیول، په وخت روژه ماتؤل ، دا ټول دَ وخت دَ پابندی مثالونه دۀ. دَ کامیاب ژوند تېرؤلو دَپاره دَوخت پابندی لازمۀ ده. په دنیا کښې ملازم اؤ نوکر ترقۀ کؤلے شۀ چې دَوخت پابند وۀ. که چرې کوم ملازم اؤ نوکر دَ وخت خیال نه ساتۀ نو اکثر دَ نوکری او ملازمت نه برطرفه کؤلے شۀ۔ دَ یو طالب علم دَپاره هم وخت پابندۀ ډېره ضرورۃ ده۔ په وخت سکول ته تلل۔ په وخت کار کؤل دا دَ هغه دَ کامیابۍ دَ پاره ضرروۀ دۀ. کوموقامونو چې ترقۀ کړی ده۔ هغوۀ دَوخت قدر کړے دے۔ هر کار یې په وخت ترسره کړے دے۔

چې په وخت باندې ترسره څوک خپل کار کړی
ترقۀ به دَ ژوندون په هره لار کړی

❁❁❁❁

Info Hub HRMS SIS SED